پښتو قاموس لیکنه

لیکونکی

دکتور عبدالحکیم هلالی.

پښتو ټولنه

۱۳۵۴

د پښتو ټولنې دخپرو نو
پر له پسې لمبر : ۲۰۴

پښتو قاموس لیکنه

لیکوونکی

دکتور عبد الحکیم هلالی

مهتمم: محمد شیرین سنګری

پښتو ټولنه

دژ بپوهنې خانګه ـ کابل ـ افغانستان
شمیر : ۵۰۰
نیټه : دوری میاشت ـ ۱۳۵۴ کال

فهرست

عنوان	مخ
سریزه	
لومړی خبرې	۱
لومړی برخه	
د پښتو قاموس لیکنې لنډه تاریخچه	۲
دوهمه برخه	
قاموسی مقاله	۴۹
د لغتو نوانتخاب	۴۹
امونیمونه	۶۰
د لغتو نود تلفظ افاده	۷۲
دخ ښوونه	۷۵
د لغتو نوګرامیرۍ خصوصیتونه	۷۸
د کلمو معنوی سپرنه	۹۲
سبکی علامې	۱۰۴
فرازیالوژي	۱۰۷
مأخذونه	۱۱۹
سمون لیک	۱۲۴

سر یزه

د پښتو ټولنې خپرونې په عمومي ډول دوه اړخه لري: ځینې يې د راندې اکاډمیک آثار دي چې د تخصص د خاوند انو دپاره لیکل کیږي او ځینې نور يې عمومي بڼه لري چې دژبې د تعمیم سره سره کوي. د ډاکټر عبدالحکیم هلالي (پښتو قاموس لیکنه) یو داسې اثر دی چې نه یوازې دژبې پوهانو د معلوماتو سویه لوړوي بلکه دژبې مبتدي زده کوونکي هم ترې ګټه اخیستلی شي.

په پښتو ژبه کې تر اوسه پورې دقاموس لیکنې پر عمومي مسألو او په ټپره د پښتو دقاموسونو د څرنګوالي په باب چا څه نه ویلي او له همدې امله، دغه کتاب په خپله ساحه کې یونوی او ابتکاري اثر ګڼل کیږي. د کتاب ژبه روانه اوخوږه ده او د اپخپله ثابتوي چې مؤلف پرتاکلي موضوع باندې پوره احاطه لري او کولی شي چې مطلب په ساده توګه او بې له اغلاق او تعقید څخه بیان کړي. یوځل چې لوستونکی د دې اثر په لوستلو پیل وکړي نو بیا د ډیره مشکله بریښي چې تر پایه یورې يې ونه لولي.

ددې کتاب عمده خصوصیت دادی چې موضوعات د پښتو ژبې مسایلوته وقف شوي دي او لیکونکي حتی دیوې شیبې دپاره هم ځان ته اجازه نه ورکوي چې د اصلي موضوع لمن خوشې کړي.

په کتاب کې اضافي خبرې او «حق الزحمه یې عبارتونه» یعنې هغه جملې چه لیکونکې یې د حق الزحمې د پاره په مکرر ډول لیکې ، نه لیدل کیږي .

د دې اثر بله ښېګڼه داده چه مؤلف د خپلو خبرو د اثبات د پاره په هر ځای کې چه لازم ښکاري ، اسناد او مثالونه وړاندې کوي او لوستونکې دا بهام او تردید په ترو ږسې کې نه پریږدي .

د کتاب بله ښېګڼه داده چه مؤلف د کره کتنې په ترڅ کې خپله علمې بیطرفي له لاسه نه ورکوي . که دیوه اثر نیمګړتیاوې را برسېره کوي له ښېګڼو څخه یې هم ستر ګې نه پټوي .

په دې اساس ، ویلی شو چه مؤلف د خپلې څېړنې په ترڅ کې دیوه ربنتونې اکاډیمیسین په حیث علمې مقتضیات تر هرڅه د مخه ګڼي او نور ملاحظات په نظر کې نه نیسي .

د دې اثر په برخه کې به لوستونکې پخپله قضاوت وکړي او ارزښت به یې وټاکي .

زه د پښتو ټولنې په نمایندګي ښاغلي د کتور هلالي ته د دې اثر په وړاندې کولو مبارکي وایم او دوی ته د زیات علمې خدمت په لاره کې توفیق غواړم .

څېړنوال محمد صدیق روهی
د پښتو ټولنې رئیس

(ب)

څېړنوال دکتور عبدالحکیم هلالی
ددې کتاب لیکوونکی

Pashtu Lexicography

by

Dr. Abdul Hakim Helali

Pashtu Academy

Kabul, 1975

Government Printing House

دولتی مطبعه

PROPERTY OF ACKU 5282

لومړی خبرې

د پښتو قاموس لیکنې کتاب دوې برخې لري. په لومړۍ برخه کې د پښتو قاموس لیکنې لنډه تاریخچه څېړل شوې ده. په دوهمه برخه کې د قاموس لیکنې ځینې اساسي مسألې چې د قاموسونو په لیکلو کې مهم رول لري سپړل شوي دي

پښتو قاموسونه چې تر اوسه پورې په افغانستان کې او د باندې له افغانستان څخه چاپ شوي دي له یوه یا بل پلوه نیمګړتیاوې لري . د دې نیمګړتیاوو یو اساسي علت دا دی چې په دغو قاموسونو کې د مشخصو اوسیستماتیکو پرنسیپونو څخه کار نه دی اخیستل شوی . بل علت یې دا دی چې تر اوسه پورې د پښتو قاموس لیکنې اساسي مسألې نه دي څېړل شوي .

په دې کتاب کې کوښښ شوی چې د قاموس لیکنې اساسي مسألې د نوې ژبپوهنې د تیورۍ په رڼا کې د دوو قاموسونو (پښتو قاموس، د اسلانف قاموس) د مواد و د تجزیې پر اساس وسپړل شي .

هیله ده چې دغه کتاب به د نوو پښتو قاموسونو په لیکلو کې مرسته وکړي .

لوړۍ برخه

د پښتو قاموس لیکنې لنډه تاریخچه

مخکې له دې چې د قاموس لیکنې اساسي مسألې وڅېړو لازمه ده چې د پښتوژبې قاموسونو ته چې په افغانستان کې او د باندې له افغانستان نه تر اوسه خپاره شوي دي یوه کره کتنه وکړو او د هغوښې او نیمګړي خوا وي وسپړو .

د پښتوژبې لوړنۍ قاموسونه له یوې خوا وړه او له بلې خوا اکثراً د درسي مقاصدو په غرض لیکل شوي او یوازې عملي جنبه لري . په نولسمه پېړۍ کې د اروپا په ښلو ښلو هیوادونو کې د پښتوژبې څېړنې ته زیاته توجه کیږي چې د دې په نتیجه کې یو لړ اثار او نسبتاً لوی لوي قاموسونه خپریږي لکه : د اکاډیمیک ب . دورن (۱۸۴۷) ، ح . را ورټی (۱۸۶۰) ، ح . بیلیو (۱۸۶۷) قاموسونه . د اکاډیمیک دورن قاموس د کیفیت په لحاظ حتی تر ډېرو قاموسونو چې وروسته چاپ شوي دي اصولي او ښه دی . پخپله په افغانستان کې د پښتوژبې د قاموس لیکنې کار نسبت اروپايي هیوادونو ته وروسته شروع کیږي . د شلمې پېړۍ د لومړیو د پرشوکالونو په شاوخوا کې د پښتوژبې د انکشاف او علمي څېړنو په غرض په کابل کې پښتو ټولنه منځ ته راځي . پښتو ټولنې د نورو کتابونو او اثارو په جمله کې څو قاموسونه هم چاپ کړي دي . د اقاموسونه د سیتو د لوژي له پلوه تر ډېره حده

د ټولسمې پیړۍ قاموسونوته ورته دي . او فرق یې د پخوانیو خټونو څخه دا دی چه په دې دوره کې هڅه کیږي چه په قاموسونو کې هغه لغات ثبت شي چه په ژبه کې ژوندي او په ډیر استعمالیږي (لکه پښتوسیند) او هم کوښښ کیږي چه د ژبې لغوي سرمایه ټوله راغونډه او یوقاموس څنې جوړ کړي (لکه پښتوقاموس) سربیره پردې په دې قاموسونو کې د لغاتو تشریحي اړخ ته هم نسبتاً زیاته توجه شوې ده .

خوسره د دې هم ددې د وړې قاموسونه د پخوانیو په شان د میتودونو او پرنسیپونو له پلوه په ډیر نیمګړتیاوي لري چه پرخپل ځای به وښوول شي .

پښتوقاموس لیکنه په شوروي اتحاد کې زیات تکامل موندی . کوم قاموسونه چه په دې هیواد کې خپاره شوي دروسي قاموس لیکنې پراو پدوتاریخي تجربو او د معاصري ژبپوهنې پرنوو میتودونو بنا دي .

له همدې کبله د قاموسونه د پرنسیپونو او میتودونو له پلوه نسبت ټولوپښتو قاموسونوته برتري لري او د پښتو قاموس لیکنې یوه درنه او با ارزښته پانګه ده .

د پښتو ټول قاموسونو چه تراوسه خپاره شوي په ډیر نیمګړتیاوي لري او د دې یو علت همدا دی چه تراوسه د پښتو ژبې د لهجوڅېړنه نیمګړې ده، د معیاري ادبي ژبې او

لهجو رو ابط پوره نه‌دي سپړل شوي او دليک‌دود مسألې نه دي حل شوي . د پښتو ليکسيګرافي (قاموس ليکنې) او ليکسيالوژي (لغت پوهنې) د همو مسألو په برخه کې مستقل علمي اثار نه‌دي ليکل شوي. ددغو مسألو دنه حل په وجه د قاموس په ليکلو کې سترخنډونه پيښيږي . تر څو چه د قاموس ليکنې د اساسي مسألو څېړنه او سپړنه پرعلمي اصولو بنأ نه وي هيڅکله نه شو کولای چه يوښه قاموس ټولنې ته وړاندي کړو .

په دې تاريخي برخه کې زموږ مقصد دادی چه په لنډ ډول د پښتو قاموس ليکنې تاريخي تکاملي مرحلې وڼاکو او د بيلو بيلو دورو دځينو مشهور و قاموسونو عمومي مشخصات خرګند کړو . زموږ مطالعې او څېړنو پر اساس د پښتو قاموس ليکنه د شروع څخه بيا تر نني ورځې پوري په تکاملي لحاظ پردرو تاريخي دورو وېشل کېدای شي .

لومړی دوره: هغه قاموسونه چه د باندي له افغانستان نه خپاره شوي دي (تر ۱۹۳۸ پوري) .

دوهمه دوره: قاموس ليکنه په افغانستان او پښتونستان کې (د ۱۹۳۸ څخه).

دريمه دوره: پښتو قاموس ليکنه په شوروی اتحاد کې (د ۱۹۵۰ ترننې ورځې).

لومړی دوره . هغه قاموسونه چه د باندي له افغانستان نه خپاره شوي دي (تر ۱۹۳۸) پوري .

دروسی افغان پیژندنی تاریخ د او و لسمی پیړی لومړی نیمایی ته رسیږي . د اتلسمی پیړی په لومړنیو کلونو کی دلومړي پیټر په غو ښتنه د پښتنو په برخه کی منظم معلومات راټول شوي اوده په شخصی دفتر اود رو سیې په ارشیف کی ساتل شوي دي (۱) . همدارنګه په روسیه کی اکادیمیک ا. ګیولدین ښتید (۱۷۳۵-۱۷۸۱) دلومړي ځل دپاره د پښتو ژبی ځینی سواد د علمی تحقیقاتو په غرض راټول کړل چه د اسواد بیا (د نړی د ټولوژبو او لهجو قاموس) کی خپاره شوي (۲) د دې قاموس په لومړي ټوک کی تر ۷۸ نمرې لاندې پښتو کلمې راوړل کیږي . د قاموس په دې ټوک کی اول روسی کلمې لیکل شوي اوورو سته له روسی کلمو څخه بیا د نورو ژبو معادلی کلمی د نمرو په ترتیب لیکل کیږي . چه په همدې اساس ورو سته ترهرې روسی کلمې تر ۷۸ نمرې لاندې پښتو کلمې راوړل کیږي (۱-اتیځ ۰۰۰ ۷۸-پلار ۰ ۱ - سات ۰۰۰ ۷۸ - سور اوداسی نور) .

یوبل پخوانی اثر چه په هغه کی د پښتو ژبی لغات ثبت

---

۱ . و ۱۰ . لیفښیځ اوی.م. ۱ رانسکی. د پښتو ژبی څېړنه . دا ریایی ژبو د څېړنې تاریخ . م ۰ ، ۱۹۶۲ ، ۶۷ - ۶۸ مخ .

۲. د ټولوژبو او لهجو مقایسوي قاموس نه . پیتربورګ ، ۱۷۸۷ .

او په فارسی ، تاتاري ، جرمنی او روسی ژبی ترجمه شوي دي د ۱۰۱ ۰ یورسمین اثردی چه په ۱۸۲۳ کی په برلین کی خپور شوی دي ۰

د پښتو ژبی څیړنه په نولسمه پیړۍ کی د پوهانو خاصه توجه ځانته جلبوي ۰ په دې وخت کی نه یوازي د پښتو چاپی قاموسونه بلکه د پر قلمی اثار هم لیکل شوي دي چه دهغو دجملی څخه ځینی دقاموس لیکنی سره ارتباط پیدا کوي لکه : ریاض المحبت ، آمد نامهٔ افغانی ، کتاب خیالات زمانی ، ـ پښتو دری قاموس ، عجائب اللغت .... چه په نولسمه پیړۍ کی لیکل شوي دي (۱)۰

دلومړی دورې مهم قاموسونه په لاندی ډول ښوول کیږي

دا کاد یمیک ب ۰ ۱ ۰ دورن پښتو انګلیسی قاموس (۲)

که څه هم ترا کادیمیک ب ۰ دورن دسخه هم ځینی قلمی

---

۱ ۰ دزیاتو معلوماتو له پاره وګورئ :

Catalogue of Pashto manuscripts in the libraries of the British isles. By the late James Fuller Blumnardt M. A. and D.N. Mackenzier M. A. Ph. D., London 1965.

2— B. Dorn: chrestomathy of the Pushtu or Afghan language to which is subjoined a glossary in Afghan and English. St. Peterburg 1847.

اثار ليکل شوي چه قاموسونوته ورته دي خود قاموس ليکنې دعلم له نظره د پښتو قاموس ليکنې مؤسس اکاديميک دورن دی چه په پښتو انګليسی قاموس يې ليکلی او په (۱۸۴۷) کی په پيټر بورګ کی خپور شوی دی .

څرنګه چه دې قاموس حتی تر اوسنی وخته پورې خپل علمی ارزښت نه دی بايللی او نسبت د بروقاموسونوته چه تر ده وروسته خپاره شوي دي د پرنسيپونو له مخه غوره او باارزښته دی ، نوبده به نه وي چه ځينی عمومی مشخصات يې په لنډ ډول لوستونکوته ورمعرفی کړو .

داکاديميک دورن اثردوې برخې لري : لومړی برخه (۳۸۶ مخه) يې د پښتو منتخبی تاريخی ، مذهبی ، ادبی پارچې او ځينی کيسی دي او دوهمه برخه يې (۳۸۳ - ۶۱۷ مخه پوري) پښتو انګليسی قاموس دی .

د دې قاموس عمومی مشخصات په دې ډول دي : لغات په دې قاموس کی د الفبا ء په ترتيب ليکل شوي دي ، هره مستقله کلمه په مستقل ډول سره ثبت شوې ده ، د کلمو تلفظ اکثراً په ترانسکرپشن او په ځينو موارد و کی خصوصاً د افغانو په برخه کی د حرکاتو په واسطه بيان شوی دی (لکه : ببنل اچول) . په دې قاموس کی کله کله د هغو مثالونو تلفظ ، کوم

چه ديوي کلمې د معنا د توضيح د پاره راوړل کيږي هم په حرکاتو سره ښوول شوي دي . دوران اکثراً د پښتو کلمو اصلي معناوي په انګليسي ترجمه کړي دي که څه هم کله کله داسې مثالونه پيدا کيدای شي چې هلته سر بېره پر اصلي معناوو د کلمو سجا زي معناوي هم راوړل شوي دي.

د کلمود ګرامري خصوصيا تو د توضيح د پاره خاصې علامې تاکل شوي دي .لنډه دا چه د دوران قاموس د پرنسيپونو له پلوه ترډېره حده پوري د هغوقاموسونو سره شباهت لري چه په شلمه پيړۍ کې په افغانستان کې خپاره شوي دي .

ي . بيرتيلس ليکلي چه د اکاديميک دورن د مرګه سره سم د پښتو ژبې خېړنه هم په روسيه کې قطع کيږي او د افغان پيژندنې اصلي مرکز انګلستان ګرځي، چه په همدې نولسمه پيړۍ کې هلته د پښتو ژبې په برخه کې ډېر اثار خپريږي چه اکثراً د درسي مواد و حيثيت لري ، او دار و پاد نور و هيوادونو له ډلې څخه فرانسې او جرمنۍ هم څه نا څه د پښتو په خېړنه کې برخه اخيستې ده (۱).

---

۱ . ي . بيرتيلس . د پښتو ژبې کندهاري لهجه . شوروي ژبپوهنه . لومړی ټوک ،ل . ۱۹۳۵، ۱۷۳ مخ .

په (۱۸۶۰) کی پښتو انګلیسی قاموس په (۵۵۸) مخونو کی خپریږي چې مؤلف يې هـ. راور ټی دی (۱).

م. ګ. اسلانف په خپله يوه مقاله کی ليکلی چې دا قاموس دوهم ځل په (۱۸۶۷) کی په کلکته کی چاپ شوی دی او (۹۰۰۰) لغات پکښې راغونډ شوي دي (۲). په دې قاموس کی لغات دا الفبا ء پۀ ترتيب نه دي ثبت شوي، بلکه مؤلف د يوې کلمې مختلف شکلونه او همدارنګه ټول هغه لغتونه چې د همدې يوې کلمې درېښې څخه مشتق شوي وي په يوه قاموسی مقاله کی راوړي. د قاموس ليکنې له تجربو څخه څرګنده ده چې د دغه ډول قاموسونو څخه استفاده ډېره مشکله ده، ځکه کومه کلمه چې په کار وي په دې قاموس کی يې پيدا کول ډېر وخت غواړي او لسټونکی نه شي پوهېدای چې تر کوم توري لاندې يې وليټوي.

---

1. H. G. Raverty. A dictionary of the Pukhto or Pushto or language of the Afghans. London, 1860.

۲. م. ګ. اسلانف. پښتو قاموس لېکنه. د وی ی علمی يادښتونه لومړی ټوک م، ۱۹۳۶.

بل مشهور قاموس چه په انګلستان کې خپور شوی د ه .
بیلیوا ټردی چه په (۱۸۶۷) په لندن کې چاپ شوی دی(۱) .
دا قاموس دوې برخې لري . پښتو ـ انګلیسی (۱۸۲ مخه)
او انګلیسی ـ پښتو (۱۸۳-۳۵۵) چه ټول ۳۵۵ مخو نوته
رسیږی. په دې قاموس کې هم د د ورن د قاموس په شان
لغات د الفباء په ترتیب ثبت شوي او تلفظ یې په ټرانسکرپشن
سره لیکل شوی دی. او یو اساسی فرق یې دا دی چه په دې
قاموس کې قاموسی مقالې نسبت د دورن اثر ته لږ ډیر
اودلغاتو د توضیح د پاره مثالونه نه راوړی .

د شلمی پیړۍ په لومړیو کلونو کې په روسیه کې
دوه واړه قاموسونه: (پښتو ترجان) (۲) چه (شپږ سوه لغات
او ۴۵ محاوروی جملې لري) او (د پښتو لنډ ګرامر او
قاموس) (۳) چه (۲۲ مخه قاموس او پنځه مخه د ګرامر
برخه ده) خپاره شوي دي .

---

1. H. W. Bellew. A dictionary of the Pukhto or Pushto language. London, 1867.

۲. یفیمت . پښتو ترجمان . تاشکند ۱۹۰۷ء .
۳. توسانویچ . د پښتو لنډ ګرامر او قاموس . تاشکند ۱۹۰۸ء

همدارنگه دشلمی پېړی په لومړنیو کلونو او په نیمایی کی دپښتو ژبی ځینی قاموسونه خپاره شوی چه دغه قاموسونه تراوسه زموږ لاس ته نه دي راغلی (۱) .

۱. په ۱۹۰۷ کی په راولپنډی کی پښتو-انګلیسی قاموس خپور شوی چه مؤلف يې میرزا سید محمد دی • دمارګینستن اتما لوژ یکی قاموس چه په ۱۹۲۷ کی له چاپه وتلی. پښتو اوردو (۱۹۳۱) او اوردو پښتو قاموسونه چه په هند کی خپاره شوي دي. په ۱۹۳۲ کی په انګلستان کی دپښتو اصطلاحاتو قاموس خپور شوی .

قاموس لیکنه په افغانستان

او پښتونستان کی

دوهمه دوره

قاموس خپرېدنه په افغانستان کی د ۱۹۳۸ څخه شروع کیږی. ترننی ورځی پوری د پښتو قاموس لیکنی دتیوری په برخه کی بې د عبدالخالق واسعی له څو تحقیقی مقالو څخه په افغانستان کې بل چا څه نه دي لیکلی.

واسعی د پښتو شعري او ادبی قاموس تر عنوان لاندې بولړعلمی او تحقیقی څېړنې کړی چه په کابل مجله کې خپرې شوی دی(۱). څنګه چه ددې څېړنو اصلی هدف دیوه شعری او ادبی قاموس جوړول و، نو بده به نه وی چه لوستونکی په لنډول دهغوپرنسیپو نوسره اشنا کړو، کوم چه دواسعی له خوا د شعری او ادبی قاموس په برخه کی وړاندې شوي.

۱- په دې قاموس کې باید هغه لغات ثبت شي چه حقیقتاً شعری او ادبی وی یعنی بې له شعره او ادبه بل چیری نه لیدل کیږی او په محاوره کې هم نه وی مستعمل.

۲- هغه کلموته به ځای ورکول کیږی چه په ادب او شعر کی راغلی وي مګر د پښتو په هره لهجه کی نه وی

---

۱. عبدالخالق واسعی. د پښتو شعری او ادبی قاموس. کابل مجله، ۱۹۶۲- ۱۹۶۳، ۵۱۸- ۵۲۹ ګڼې.

مرو ـ جی او عام پښتنا نه یې نه پیژ نی .

۳ ـ هغه کلمې راغو نه یې ری چه په شعر او ادب کې راغلی دی مګر په محاوره او لهجو کې نه استعمالیږی او د پښتو په چاپ شوو قاموسونو کې هم په سمه معنا نه وی ثبت شوی .

۴ ـ هغه لغات راوړل کیږی چه یوازې دیوه شاعر او یا کوم دیوان د څېړنې مخلوق وی ، که څه هم دا لغات په ظاهره دګرامری قوانینو پر اساس جوړ شوی وی مګر پخپله دغه لغات په محاوره اوژبه کې هیڅ درک او نښان و نه لری او نه موجوده قاموسو ثبت کړی وی (۱) . مشکله ده چه سړی د یې د پورتنیو پرنسیپونو سره په تمامه معنا موافقه و کړی .

ځکه په شعری او ادبی قاموس کی د کلمو دا انتخاب اساسی شرط دا دی چه په دې ډول قاموسونو کې ټول هغه لغات راوړل کېدای شی ، کوم چه شعری او ادبی رنګ لری او زیاتره په اشعارو کی استعمالیږی . دا چه دغه لغات په ژبه کې عمومیت لری او که یې نه لری ، په کومه لهجه کی استعمالیږی او یا نه استعمالیږی ، د دې ډول قاموسونو په جوړولو کی کوم اساسی شرط نه شی کید ای . په دې موضوع په مفصل ډول اوس څه لیکل نه غواړو ځکه دا موضوع بېل بحث ته ضرورت لری .

---

(۱) واسعی . کابل مجله ، ۱۹۶۲ ۵۱۹ ګڼه ، ۲۱-۲۶ مخ .

دلته به یوازی دواسعی د څېړنو پرهغو برخوو ړ غیږو چه په پښتو قاموس لیکنه کې علمي ارزښت لري. واسعي په خپلو څېړنو کې د کلمو شعري معناوي دهغو معناوو سره مقایسه کوي چه دغو کلمو ته په قاموسونو کې (که چیرې دغه کلمې په قاموسونو کې ثبت شوي وي) ور کړل شوي دي او تو پیرونه یې را سپړي. همدار نګه ده دخپلو څېړنو په تر څ کې داسې کلمې را غونډې کړې چه د پښتو شاعرانو په شعرونو کې راغلې مګر په قاموسونو کې نه دي ثبت شوي لکه د (ویلاړ) کلمه چه په قاموسونو کې نشته خود عبدالحمید مومند په شعر کې دعزم او ارادې په معنا راغلې:

چه داهسې بې پوښتنې له ما لاړ شو

خوانا خوازما دوژلو په ویلاړ شو(۱).

همدارنګه واسعي د(چون) د توضیح په برخه کې لیکلي چه دا کلمه په پښتو قاموس کې په دې معنا وو راوړل شوې «(۱) رخک دروازه (۲) چین کلاه (۳) آواز بسیار آهسته (۴) اتش دان وغوزه تفنګ (۵) سوراخ خورد در بند جوی و یا حوض (۶) آواز گنجشک».

دا معناوي دخوشحال خټک د شعر سره سرنه خوري:

۱. واسعي. کابل مجله، ۵۲۶.

یو کلی یا دوه چه یې ستا ینه کاداړ پردی
چون شکلی هغه دی چه یې ستا یی ټول عالم
د(چون کلمه سربیره پرهغو معنا وو چه په پښتو قاموس کی راغلی د(۱) پرویزل چونسول(۲) حقیقی ، و تلی، مشهور او اساسی په معنا هم استعمالیږی .دخوشحال خټک په پورتنی بیت کی هم د (چون) کلمه د و تلی ، مشهور، غوره او منتخب په معنا راغلې ده(۱).
د قاموس لیکنې په برخه کې دغه ډول خپرنی پوره ارزښت لری اود پښتو قاموسونو دلغوي او معنوي نیمګړتیا وو په پوره کولو کی لویه مرسته کولای شی.

په ۱۹۳۸ کې د پښتو سینډ (پښتو ـ دری) په نامه قاموس خپریږی چه مؤلف یې مرحوم محمد گل موسندی. په دې قاموس کې نږدې اووه زره لغتونه راغونډ شوي او په دوه ټوکه کې (۳۹۹-۳۷۶ مخ) چاپ شوی دی .ددې قاموس ښې خواوي دادی:

۱ ـ په دې قاموس کې زیات کوښښ شوی دی چه دیوې

---

۱ واسعی . کابل مجله ، ۵۲۲ ګڼه.

کلمې ټولې اصلي او مجازي معناوي په دري ترجمه شي. په همدې غرض مؤلف دځينو کلمود معناوو د توضيح د پاره بېلو بېلو کسانو ته رجوع کړې او سرسته يې خپل غوښتنې ده.

۲ـ د قاموس ليکنې دعلم له مخه ددې قاموس ښه خوا د لغاتو د تشريح او دژوند يو مثالونو برخه ده.

په دې قاموس کې لغات په تفصيل سره معنا شوي او هم د اکثرو لغتونود توضيح د پاره ژوندي مثالونه راوړل شوي دي (خصوصاً د افعالو په برخه کې). له دې پلوه دا قاموس نسبت ټولو قاموسونو ته چه مخکې تر ده د باندې له افغانستانه خپاره شوي دي او يا وروسته له دې قاموسه په افغانستان کې چاپ شوي دي ښه ګټل کيږي.

۳ـ پښتو سيند ترډېره حده پرژوندۍ ژبه مخکې دی.

۴ـ د ډېرو قاموسونو په خلاف په پښتو سيند کې د کلمو دخج ځای ښوول شوی دی. د اقاموس ځينې نيمګړتيا وی هم لري لکه: د نومونوسره ګرامري علامې نه لري، د کلام د اجزاوو د بيلتون د پاره کومې علامې نه دي راوړل شوي، د کلمو د تلفظ د پاره چه کوم ترتيب غوره شوی دهغه په واسطه کلمې سمې نشي لوستل کېدای او ليک د ود او خطيې هم يوه خاصه بڼه لري ... ددې نيمګړتيا وو يو اصلي علت

دادی چه پښتو سیند د پښتوژبې لومړنی قاموس دی چه په افغانستان کې چاپ شوی نوځکه هرومرو به نیمګړتیاوی هم لری.

په ۱۹۴۰ کې کوچنی پښتو - دری قاموس چه (سپیڅلی پښتو) نومیږی په کندهار کې چاپ شوی دی چه لیکونکی یې لعل محمد او عبدالحی حبیبی دی. په دې قاموس کې لس زره لغتونه راټول شوی دی. سپیڅلی پښتو د پخوانیو وړو قاموسونو (خصوصاً د توما نویچ د قاموس) سره د اصواو له مخه رنګ شباهت لری.

په ۱۹۵۲ - ۱۹۵۵ کې د پښتو ټولنې له خوا په دوه ټوکه کې پښتو دری قاموس چه (پښتو قاموس) نومیږی چاپ شوی دی. دا قاموس هم د کمیت او هم د کیفیت په لحاظ تر ټولو هغو قاموسونو چه په لومړی او دوهمه دوره کې خپاره شوی دی برتری لری. اوس د پښتو قاموس پرښو او نیمګړو اړخونو نه پرته، کله چه د قاموس لیکنې د اساسی مسألو په څیر نه پیل کوونو هلته د ځینو تیوریتیکی مسألو د توضیح د پاره د پښتو قاموس او اسلاف د قاموس څخه مثالونه راوړو، نې او نیمګړي خواوې یې سپړو. له همدې کبله دلته یې تکرارته څه ضرورت نه لیدل کیږی:

دوه کاله وروسته یعنی په ۱۹۵۷ کې د پښتو ټولنې لخوا په دري ټوکه کې د دری پښتو قاموس (افغان قاموس) په

خپرونه پیل کیږی .ددې قاموس مؤلف عبدالله افغانی نویس او مهتمم یې بیاغلی نور احمد شاکردی. دافغان قاموس له مقدمې نه وروسته د مؤلف له خواد پښتو ژبې گرامری خصوصیات تشریح شوی دی.

افغان قاموس د پرنسیپونوله سخه د(سپیڅلی پښتو) سره څه فرق نه لری . کلموته گرامری علامې نه دی لیکل شوی دخ ځای نه دی ښوول شوی .د کلموتلفظ نه دی لیکل شوی...

همدارنگه د(سپیڅلی پښتو)په شان په افغان قاموس کې د کلمو د معنا وو او د کلمو او جملو د فرق په برخه کې ډیره توجه نه ده شوې لکه:

«آب آوردن ـ جمع شدن ساده فاسد در اعضاء ـ او به اخیستل او به پټون » ،«آب از دهن رفتن ـ کنایه از آب حسرت به دهن آمدن ـ خوله او بـه او به کیدل،خـوله او بـه پرېښودل».

«آب از سر گذشتن ـ به منتهای تباهی رسیدن ـ او به له سره اوښتل ،او به تر سر تیریدل».د قاموس لیکنې د اصولو سره سم په قاموسونو کې یوازې لغتونه راوړل کیږی او وروسته ترهغه ددغو لغاتو اصلی او مجازی معنا وی په قاموسی مقالو کې تشریح کیږی .مګر په افغان قاموس کې ددې اصل مراعات نه دی شوی او په ډیرو ځایو کې د کلمو په عوض کې پوره جملی راوړل شوی دی لکه: آب

آوردن ،آب ازدهن رفتن ،آب از سرگذشتن ...چه مستقلي جملي دي نه کلمي .او سربيره پردي په دي قاموس کي ددي جملو اصلي معناوي هم نه دي راوړل شوي او يوازي غير اصلي او مجازي معناوي يي ثبت شوي دي.

په ۱۹۶۰ کي د پښتو ټولنې له خوا په (۲۲۵) مخونو کي د افغانستان د کينو ژبو او لهجو قاموس خپرې شوی چه مؤلف يې شاه عبد الله دی . مؤلف په دي قاموس کي د دري ، شغنی ، سنګليچی ، واخی ، اشکاشمی او منجی لغتونه راغونډ کړي وو او پښتو ټولنې د پښتو لغات هم وړ زيات کړل. نوموړی په سريزه کي ددي قاموس پر اهميت چه د اريايي او اينډو اروپايي ژبو په مقايسه کي يې لری ږغيدلی او کينی مثالونه يې هم راوړی .

ليکی چه : (Eat) کلمه په انګليسی او واخی کي يوه ږغيږه بڼه او يوه معنا لری . د (Poosh) کلمه په شغنی او واخی کي د (بوټی) په معنا استعماليږی چه په انګليسی کي (bush) ورته وايي . همدا ر نګه د (Love) کلمه په انګليسی او واخی کي په يوه معنا استعماليږی او هم يوه ږغيږه بڼه لری .

په‌دې قاموس کې کلمې د الفباء په ترتیب په جدولونو کې لیکل شوی دی لکه :

پښتو - دری - شغنی - شنګلیچی - واخی - اشکاشمی - منجی الیشونه - مبادله - بدهل - آلش - آلش - آلش - آلش خوړل - خوردن - خیدا و - خورا - ایتک - خروک - خرا خورالک - خورالک - خورالک - خورالک - خورالک - خوراتا

دغه ډول قاموسونه رښتیا هم هغو څېړونکو ته چه‌د اریایی او ایندو اروپایی ژبو په څېړنه بوخت دي ډیر مواد تهیه کولای شی . د پامیري ژبو او لهجو تاریخی مقایسوي څېړنه داریایی ژبو دتا ریخ ، ددوی دمتقابلو روا بطو او هم دپښتو ژبې او لهجو په سپړنه کې ستر رول لوبوی .

ددې د وړې یو بل قاموس چه زمونږ لاس ته راغلی اود یا دونې وړدی دسید بهادر شاه ظفر قاموس دی چه (ظفر اللغات) نومیږی او په پښتور کې خپور شوی دی ، ددې قاموس د چاپ نېټه نه‌ده معلومه او په قاموس کې هم نه ده لیکلی شوې . خو دو مره څرګنده یږی چه ظفر اللغات وروسته ترپښتو قاموس خپور شوی دی . ځکه دسر یزې څخه یې معلومیږی چه مؤلف یې دپښتو قاموس څخه استفاده کړې ده. په ظفر اللغات کې شل زره لغتونه راغونډ شوی دی

(سریزه) . ظفر اللغات د اصولو له مخه ددې دوړې له نورو قاموسونو څخه څه ډېر توپیر نه لري .

په ۱۹۷۰ کې د پښتو اکاډیمۍ د پښور پو هنتون له خوا دیوه قاموس په خپرېدو شروع کیږي .

دا قاموس (پښتو ژبه) نومیږي . ویل کیږي چه تر اوسه یې څلور ټوکه خپاره شوی دی .

خو پښتو ټولنې ته یې یوازې یوټوک را رسېدلی چه د الف له تورې څخه شروع کیږي او د الف او میم (امیندوار ه) پر تورو پای ته رسیږي . په دې قاموس کې پښتو کلمې په پښتو ژبه معنا کیږي .

دا قاموس هم د کمیت او هم د کیفیت له پلوه تر ظفر اللغات ښه دی .

د قاموسی مقالې عمومی محتویات یې په دوه دی:

۱ ـ په دې قاموس کې کوښښ شوی چه د پښتو ژبې د بېلو بېلو سیمو لغات راغوند کړی .

۲ ـ په دې قاموس کې هغه کلمی چه د پردیو ژبو څخه پښتو ته راغلی او په پښتو ژبه کې مستعملی دی را وړل شوی دی .

۳ ـ د کلمو د معناوو په سپرنه کې ډېر کوښښ شوی او د کلمو د معناوو د توضیح د پاره تشریحی مثالونه راوړل شوی دی .

۴ ـ د کلام اجزاء دخاصو ګرامري علامو په واسطه ښوول کیږی .

۵ ـ د کلمو دخج ځای ښوول کیږی .

۶ ـ د کلمو مذکر ، مؤنث ، مفرد او جمعه دعلامو په واسطه څرګند یږی .

۷ ـ د کلمو د معناوو په برخه کې لومړی لغوی معناوې او بیا اصلاحی معناوي راوړل کیږی .

۸ ـ دخیلی کلمې دخاصو سیکی علامو په واسطه (لکه: تر (ترکی) ، ع (عربی) ، په (پهلوي) ، فا (فارسی) کش (کشمیری) ، پن (پنجابی(....) ښوول کیږی .

۹ ـ د کلمو تلفظ په زبر ، زور ، پېش اوزور کی سره واضح کیږی .

۱۰ ـ د کلمو دتلفظ دپاره سربیره پر زیر ، زور ، پېش او زور کی ترکلمو وروسته توري هم لیکل کیږی (لکه : اپله : ـ (آ×پ×ل (....).

څرنګه چه ددې رسالې په دوهمه برخه کې دقاموسې مقالې اساسی مسألې څېړل کیږی، نودلته داضرورت نه لیدل کیږی چه د (پښتو ژبه) دقاموسی مقالې پر موادو په جلا ډول بحث وکړو .

او سربیره پردې درسالې لومړی برخه د پښتو قاموس لیکنې لنډې تاریخچې ته وقف شوې ده .

په‌دې دوره کې ځینې نور قاموسونه هم خپاره شوی دی چه‌له بده مرغه زمونږ لاس ته نه‌دی راغلی ، لکه : لس‌زره پښتو لغتونه (کابل ـ ۱۹۴۱) او لغات افغانی (پېښور) . (۱)

---

۱ ـ په‌دې دوره کې یوبل قاموس هم‌چپور شوی‌دی چه ځه‌څه هم دژبنیو قاموسونو په‌لړ کې نه‌شی را تلای خویادونه‌یې ضروری‌ده . دا قاموس (دپښتو اصطلاحات او محاوري) نومیږی (کابل ـ ۱۳۲۰) چه مؤلف یې محمد گل نوري دی .

قاموس لیکنه په شوروی اتحاد کی

دریمه دوره

پښتو ـ روسی قاموس :

د افغانستان او شوروی اتحاد د اقتصادی، سیاسی او کلتوری روابطو دودې او انکشاف له کبله د پښتو او روسی ژبو زده کړه او څېړنه یو تاریخی ضرورت دی دهمدې تاریخی او کلتوری ضرورت د احساس له کبله شوروی پوهان په ۱۹۵۰ کی د لومړی ځل د پاره (په شوروی دوره کی) پښتو روسی وړوکی قاموس خپرو ي . د دې کوچنی قاموس مؤلف پ.ب. زودین او مهتمم یې د شوروی اتحاد د علومو د اکاډیمی غړی پروفیسر بیر تلس دی .

دا کوچنی قاموس دوو لس زره لغتونه لري . د قاموس په پای کی د جغرافیوی نومونو فهرست او د پښتو ژبی، فونیم پوهنی او لیک په برخه کی لنډ معلومات وړاندی شوي دي .

کلمې د الفباء په ترتیب لیکل شوي . قاموسی مقاله په دې ډول ترتیب شوې ده :

پښتو کلمه (په عربی رسم الخط) ـ تلفظ (په روسی ترانسکرپشن) ـ د خج د ځای ښوونه ـ ګرامري علامه (هغه علامه

چه د کلمې ګرامري خصوصیات توضیح کوی)-د لغوي معنا برخه-د معنا توضیح د مثالونو په واسطه-دژبنیو اصطلاحاتو او متلونو برخه .

که چیرې نومونې کلمه اسم او یا صفت وی نو د مفرد و نومونو او صفتونو سره د جمعې ورو ستاړي هم راوړي د هغو مصدرونو او فعلونو په برخه کې چه فعلي مشتقات یې د عمومي قاعدې په خلاف جوړیږي د حال او ماضي شکلونه یې د نورو نې په ډول راوړي لکه :

اخښل-فع. (فعل) (حا. اغږي، ما. واخښل یا واغږل).

امونیمونه (هغه کلمې چه د شکل او تلفظ په لحاظ سره یو او په معنا کې سره ښکلي وي) په جلا جلا قاموسي مقالو کې د مستقلو کلمو په حیث ثبت شوي دي . سره له دې چه د اقاموس لغوي ، ګرامري او فونیتیکي نیمګړتیاوي لري بیا هم په خپل وخت کې یې د پښتو ژبې په زده کړه مهم رول لوبولی دی. د دې قاموس څیني عمومي نیمګړتیاوي دا دي :

۱ - لغوی برخه : په دې قاموس کې ډیرې داسې کلمې لیدلای شوچه معنوي اړخ ته یې پوره توجه نه ده شوې لکه: د(اتکل) لومړی معنا په (فکر) ترجمه شوې ده او ورو سته له دې بیا د دې کلمې نورې اصلي معنا وي راغلې دي .

د(اتکل) کلمه په پښتو ژبه کې د (فکر) په معنا نه استعمالیږي .

اروته (اور ته) په دې قاموس کې د (ښځه) په معنا ترجمه شوې ده. په پښتو کې (او رته) او (ښځه) دوې بېلې کلمې دي چه یوه د بلې پر ځای نشي استعمالیدای .

(ښځه) په پښتو کې پرعمومي جنس اطلاق دی نه خاص. مګر (او رته) یوازې د (مایني، ارتیني) په معنا استعمالیږي. (او رته) د عربي کلمې (عورة) او بېتې پښتو شوې بڼه ده. عربي کلمې (عورة) دوخت په تېریدو سره په پښتوژبه کې خپله اصلي بڼه او پخوانۍ معنا له لاسه ورکړې او نوې معنا یې پیدا کړې ده . په عربي کې (عورة) د (ستر ځای) معنا لري چه په پښتو کې اوس (او رته) د مایني په معنا مستعمله ده .

د (خپرونه) کلمه په دې قاموس کې د (راډیو خپرونه) په معنا ترجمه شوې ده .

دا کلمه بېلابېلې نورې اصلي معناوي هم لري لکه نشرول ، چاپول، نشریات، چه په قاموس کې نه دي راوړل شوي . . .

۲ـ فونیټیکي برخه: په دې قاموس کې د ډېرو کلمو تلفظ دژبې سره سره نه خوري .

لکه :	په قاموس کی	سم تلفظ یې
ادا	ida	ada
احوال	ihwāl	ahwal
حلال	halal	helal
سره	será	sara
لغت	laghat	lughat

اوداسی نور .

۳- گرامری برخه : دقاموس په دریم مخ کښی د (سپیڅلي پښتو) په عوض (سپیڅلی په «معروفه ي» پښتو) لیکل شوي ده . دلته دصفت او اسم رابطه سمه نه ده . ځکه په پښتو کی صفت داسم تابع وي نوځرنګه چه (پښتو) مؤنثه کلمه ده ، نوصفت یې هم مؤنث راځی . همدارنګه د(آب) ترکلمې لاندې داډول غیرصحیح ګرامري ترکیبونه راغلی دي :

په قاموس کی	سم شکل یې
بې آب کول	بې آبه کول
بې آب کېدل	بې آبه کېدل
دمخه آب ...	دمخ آب

او داسی نور ...

۴ـ تشریحي برخې: دقاموسي مقالو په تشریحي برخه کې ډیر داسې ترکیبونه راوړل شوي دي چه د پښتو ژبې د ویونکو دپاره نامانوس غوندې ښکاري لکه: خپل ابونه وړاندې کوم.

په ۱۷ مخ کې داختر دکلمې دتوضیح د پاره یومثال راوړل شوی ـ اختردی. مګر روسي ترجمه یې داسې شوې ده ـ (اختردی مبارګ شه)! (اختردی) په پښتو کې د (اختر دی مبارك شه) په معنا نه استعمالیږي، بلکه دا یو داسې ترکیب دی لکه: سهاردی، ماښام دی، ورځ ده.

په ۱۹۵۳ کې د (مسکو دختیځ پیژندنې د انستیتوت د اثارو په مجموعه کې) پردې قاموس دك ۱۰. لپیډیف له خوا یوتقریظ لیکل شوی دی. په دې تقریظ کې تریوې اندازې دمبالغې څخه کار اخیستل شوی دی. او هغه داچه دتقریظ لیکوونکی تقریباً ټول قاموس نفي کوي اوټول هغه ارزښتونه، چه یې دیوه لومړنی قاموس په حیث دشوروی افغان پیژندونکو دپاره لرل، هیروي.

ك ۱۰. لپیډیف لیکي: ددې قاموس دغلطیولو مخه ویلای شو چه داقاموس لوستونکو ته دپښتو ژبې په باره کې غلط تصور ورکوي، لوستونکي ګمراکوي اوپه دوی کې غلط تلفظ

هیڅ شک نشته چه په دې قاموس کې د پرې او په هره سویه غلطي موجودي دي مګر دا ددې معنا نه لري چه د قاموس مثبتې خواوي بیخي له نظره واچول شي او یوازې غلطي په ګوته شي. دهر اثر انتقادي څېړنه دا ایجابوي چه تل دهغه ښې او نیمګړې خواوي وسپړل شي.

همدارنګه موږ دك ۱۰. لبیدیف ددې نظریې سره موافقه نشو کولای چه لیکي:

«...دلوی (صفت) جمعه لویي ده. مګر په دې قاموس کې د(لوی) د جمعې د پاره د(-آن) و روستاړی را وړل شوی دی. د(-آن) وروستاړی د نورونو د جمعې علامه ده، نه د صفت» (۲۱۱ مخ). دلبیدیف ددې پورتنۍ نظریې سره په څو دلیله موافقه نشو کولای:

۱- کله چه (لوی) صفت وبلل شي نو ددې صفت د جمعې شکل (لویي) نه ده. ځکه (لویي) پخپله یو مؤنث اسم دی لکه:

---

۱. ك. ۱. لبیدیف. د پ.ب. زودین پر پښتو - روسی قاموس تقریظ. د ختیځ پیژندنې د اثارو مجموعه، ۷ ګڼه م، ۱۹۵۳، ۲۱۱ مخ.

دوستی
خپلوي
مشري
لويي

۴- (ـآن) يوازی دنومونو دجمعی علامه (وروستاړی) نه ده بلکه دهغو صفتو نودجمعي علامه هم ده چه په انګليسی کی ورته ((Substantival adjective)) وايی (يعنی هغه صفتونه چه داسم وظيفه اجرا کوي لکه:

مشر-مشران.
کشر-کشران.
لوی-لويان.
پوه-پوهان.

روسی-پښتو قاموس:

په ۱۹۵۵ کی په شوروی اتحاد کی يو بل نسبتاً لوی روسی-پښتو قاموس خپريږی چه ليکونکی يې پ.پ.زودين دی. په دې قاموس کی ۲۱ زره لغتونه راغونډ شوي دي. په دې قاموس کی د قاموس ليکنی هغه پرنسيپونه مراعات شوي دي، له کومو څخه چه ليکونکی پخپل لومړنی قاموس کی استفاده کړې ده. نوځکه بيا يی تکرار ته څه ضرورت نه ليدل کيږي. که څه هم د اقاموس د کميت او کيفيت له مخه نسبت

د ده لومړنی قاموس (پښتو- روسی) ته ښه دی خو بیا هم لازمه ده چه ځینی عمومی ټیمګیړ تیاوي یی وښوول شی:

۱ ـ په دې قاموس کی د پرې داسی روسی کلمې راغلی دي چه په پښتو نه دي ترجمه شوی، بلکه د ترجمی په عوض کی همدغه روسی کلمې بیرته په پښتو رسم الخط سره لیکل شوي دي بې له دې چه تشریح او یا توضیح شی لکه :

آب خازي	abxazets
آسیموت	azimut
آپا تیت	apatit
آر کتیک	arktika
آرتیل	artel
بلیستیک	ballistika
بار کاس	barkas
بسمچی	basmac
باتیست	batist
باسیل	batsila
بیلوګا	beluga
بیره ، بیری	(I) beret

او داسی نور ....

۱ . روسی کلمې په لاتینی حروفو لیکو ځکه چه زمو ږ په مطبعه کی روسی حروف نشته (لیکو نکی) .

په داسی حالتونو کی چه د روسی ژبی کومه کلمه او یا اصطلاح په پښتو کی کومه مترادفه کلمه و نه لري نو دقاموس لیکونکی وظیفه ده چه دغه ډول کلمې او یا اصطلاحات تشریح او توضیح کړي .

۲ - په دې قاموس کی د (aftobus) روسی کلمه په (بوس) سره ترجمه شوې ده .

د روسی نومورې کلمه د سرویس معنا لري، نه د بوسو. ځکه بوس په پښتو کی پروړوته وایی .

خوږه ګومان کوم چه د قاموس لیکونکی مقصد به (بس) وي خوتلفظ يې سم نه دی افاده کړی .

همدارنګه په دې قاموس کی ډیری کلمې پیدا کولای شو چه تلفظ او دخج ځای يې صحیح نه دی (لکه: پته) . د نوټ او لوټ د کلمو تلفظ د ((nut او (lut)) په شکل سره لیکل شوی دي . او له دې څخه د قاموس لیکونکی مقصد پیسې دي، خو په پښتو کی لوټ ((lot)) و انوټ (not) د پیسو په معنا استعمالیږي . مګر د لوټ ((lut)) کلمه چه په دې قاموس کی د پیسو په معنا راغلې د پیسو معنا نه لري بلکه د (چور او چپاو) معنا ورکوي .

همدا رنگه کومه توضیحی تشریح چه‌په‌دې برخه کې ورکړل شوې ده هم واضحه نه‌ده . دلوټ تشریح داسې شوې ده : کاغذي پول .

دا ترکیب د پښتو ژبې ویونکو د پاره نامانوس دی که څه هم د (پـول) کـلمه کله کله پـه پښتو کـې استعمالیږی (یوپول هم نه‌لرم . پولدار) خونه‌د (کاغذی پول) د ترکیب په شکل .

۳ - هره ژبه ځان‌ته خاص‌سیستم اوخاص قواعد لري که‌چیری د جملو په‌جوړولو کې دژبې سیستم او قواعد په نظر کې ونه‌نیول شی نو کومې جملې چه جوړیږی هغه به‌بې معنا او بې مفهومه وي .

په‌دې قاموس کې د پرې داسې جملې شته چه‌د پښتو ژبې له‌سیستم سره‌سر نه‌خوري د مثال په‌ډول : لکه، «په موټرتلل »د قاموس لیکو نکی مقصد دلته دادی : په موټر کې تلل ، «نن ورځ خوراك مې‌خوند نه کوی» . ترخوچه روسی شکل ته‌یې رجوع ونه‌شی‌د دې جملې په مفهوم څوك نه‌شی پوهیدای .

د دې جملې څخه د قاموس د مؤلف مقصد دادی : زه‌نن اشتها نه‌لرم .

پښتو - روسی جیبی قاموس

په ۱۹۶۱ او ۱۹۶۲ کی په مسکو کی دوه واړه جیبی قاموسونه خپاره شوي چه یوبي (روسی - پښتو جیبی قاموس) (۷۰۰۰ لغتونه) او بل یې (پښتو - روسی جیبی قاموس) (۷۵۰۰ لغتونه) دي . ددې دواړو قاموسونو مؤلف ک . ا . لیبیدیف دی . څنګه چه دا دواړه قاموسونه دیوه مؤلف دخوا لیکل شوي او د میتو دولوژی او قاموس لیکنی دعمومی تیوری له نظره کوم تفاوت نه سره اری . نو لازمه نه ده چه په دې برخه کی یوازی (پښتو - روسی - جیبی قاموس) وڅېړل شی . او دا لکه چه ددې علمی څېړنو اصلی هدف پښتو قاموسونه دی دلک . آ . لیبیدف (پښتو - روسی جیبی قاموس) که دزوړدین د (پښتو - روسی قاموس) (وګ . تېره مقاله) سره مقایسه کړو نو د لیبیدیف قاموس د تلفظ برخه او هم د ترجمې برخه نسبت دزوړدین قاموس ته ترجیح اری . همه ارنګه د لیبیدیف قاموس د معیاری پښتو ژبی له پلوه ترټول هغو پښتو - روسی قاموسونو چه تر اوسه په شوروی اتحاد کی خپاره شوي دي نبه او معیاری دی . خوسره له دی بیا هم ځینی نیمګړتیاوي او ځینی د انتقاد وړتکی پکښی شته چې په لاندی ډول ښوول کیږی :

به قاموس کی	سم تلفظ یې
but	بوټ
buda	بوده
bot	
boda	

nek	nik	نیک
ules	ulus	اولس

همدارنگه دځینو کلمودخج ځایونه سم نه دی تاکل شوي .
په قاموس کې سم شکل یې
neta (خج پر- e) نیته meta (خج پر- a
neza (خج پر- e) نیزه neza خج پر- a
pata (خج پردو اړو a) پته pata (خج پرلو مړی - a)
ځینی د ا سی کلمی ثبت شوي چه په پښتو ژ به کی مستعملی نه د ي :
بوران - (دطو فان په معنا)
اړ تاو - (دغور ځولو په معنا)
اخته پوت - (د اخطبو ط په معنا)
واح - (دا به وا حه وي)
ځینی کلمی په دې قاموس کی پوره نه دي معنا شوي. د (بیا نیه) کلمه په روسی ژ به په (Zayavlenie) سره تر جمه شوي ده. د دې روسی کلمی اصلی معنا (درخواستی، عریضه) ده. مګرد (بیا نیه) اصلی معنا په پښتو ژ به کی (نطق، وینا) دي. که څه هم درو سی کلمې په مصدري شکل (zayavlyat) کی د (وینا) ریښه پرته ده مګرپه هرصورت د (بیا نیه) معادل او مترادف نه شی ګڼل کیدای. د (الماری) د کلمی پـــه ترجمه کی د نورو اصلی معنا وو په لړ کی یو ه معنا هم

(gradirob) ثبت شوي ده. (gardirob) هغه ځای ته وایی چه په رستوران، تیاتر او داسی نورو ځایونو کی د بالا پوښونو د کښلو او ځړولو دپاره جوړشوی وي، چه دې ته الماری نه شو ویلای او (الماری) په پښتو ژبه کی په دې معنا نه استعما لیږی . خو سره له دې دا او داسی نورې و ړې نیمګړتیاوی ددې قاموس عمومی ارزښت ته کومه صدمه نه رسوي. داسلانوف دقاموس په خلا ف ددې قاموس یوښه صفت دادی چه د پښتو ژبی د کلمو د تلفظ په برخه کی دټرا نسکر پشن یومعقول او اصولی سیستم پکښې غوره شوی دی .

تردې ځایه پوری په لنډ ډول یوازې د (پښتو-روسی جیبی قاموس)علمی ارزښتونو او نیمګړتیاوو ته اشاره وشوه . اوس به بده نه وي چه دوړو جیبی دوه ژبیزو قاموسونو ارزښت دقاموس ایکښی دتیوری له نظره وخېړل شی چه دغه ډول قاموسونه د ژبی په زده کړه کی څو سره مؤثردي، او دغه ډول قاموسونه دهغو وظیفو له عهدې څخه وتلای شی د کومود پاره چه تا کل شوي دي او که یه !

زه دقاموس لیکنی دعمومی تیوری له نظره دهغو قاموس لیکونکو دعقیدې سره چه دجیبی دوه ژبیزو وړو قاموسونو جوړوو اوضرورت تائیدوي موافقه نه شم کولای او دا په خو دلیله :

اول- لکه څنګه چه ددې ډول قاموسونو په برسته د یوې خارجي ژبې زده کول امکان نه لري همدارنګه د جیبي قاموسونو په برسته یوه متن هم له یوې ژبې څخه په بله ژبه نه شي ترجمه کیدای .

دوهم- دا ډول جیبي قاموسونه اصلا د تورستانو، سپورت مینانو او داسې نورو وړو ګروپونو د عملي استفادې په غرض جوړیږي . مګر دا ټولو ته واضحه ده چه یوازې د کلمو د فهوست په پوهیدو سره څوك نه شي کولای چه دا فهام او تفهیم مشکلات په پردې ژبه کې حل کړي . بلکه دلغاتو په څنګ کې هره ژبه خاص ګرامري قواعد ، د افادې مشخص سیستم او د کلمو دیوځای کیدو بیل بیل پرنسیپونه لري . دهمدې اصل له مخه توریستان او نورو اړه ګروپونه نه شي کولای چه له جیبي قاموسونو څخه کومه عملي استفاده وکړي له همدې کبله منطقي به داوي چه د داسې ګروپونو د پاره واړه دوه ژبیز محاوري کتابونه جوړ شي نه جیبي دوه ژبیز قاموسونه.

دریم- ددې ډول قاموسونو به لیکلو کې لومړنۍ مشکله مسأله چه مؤلف ورسره مخامخ کیږي هغه دژبې دفعالې پانګې (هغه لغتونه چه په ژبه کې د پر استعمالیږي) او غیرفعالې پانګې (کوم لغتونه چه په ژبه کې لږ مستعمل دي) سم تشخیص دی. او ترکومې اندازې پورې چه د

قاموس لیکنې تجربو ثابته کړې ده دا تشخیص ډېر مشکل او پیچلی کاردی ، که څه هم دښواحصائیوی قاموسونو د موجودیت په صورت کې ممکن دی .

دژبې دفعالی اوغیرفعالی پانګې تشخیص دښوولو د پاره به دمثال په ډول دك ۱۰. لېبیدیف (پښتو- روسی جیبی قاموس) راواخلو او وبه ګورو چه مؤلف تر کومې اندازې پورې موفق شوی دی چه په خپل قاموس کې هغه لغتونه ثبت کړي ، کوم چه په ژبه کې ډېر استعمالیږی. کله چه دقاموس پانې راواړوو دالیدلای شوچه په دې قاموس کې ډېر داسې لغتونه راغلی دي چه اصلا د دې ډول قاموسونو له پرنسیپونو سره سرنه خوري لکه :

۱ـ په دې قاموس کې ډیری داسې کلمې ثبت شوی دي چه په اوسنی معیار ي پښتو ژبه کې نه استعمالیږي بلکه برعکس دژبې غیرفعاله پانګه یې بالای شو :

اجلاب (دمنظم ، مرتب ، وظیفه شناس ، اخلاقی په معنا)
اګر (دعود په معنا).
اغوندول (دوراغوستلو په معنا) .
بالات (دبایللو په معنا).
پرنا (دبیدیدونکی په معنا).
واخی (دبیې ، قیمت په معنا ثبت شوی) .
بیر (دکاروان په معنا راغلی).

ځای (دمارش په معنا).
او داسی نور ...

۲ـ دېري داسی فارسی کلمې راغونډي شوي چه په پښتوژبه کی نه استعمالیږي او دټولو دپاره په پښتو ژبه کی ژوندی مستعملی کلمی مو جودي دي . دا فارسی کلمې اکثراً یو ازي په اشعارو کی د شاعرانو له خوا د قافیی دسمون په غرض استعمالی شوي دي :

کج (چه پښتو کی د کوږ کلمه مستعمله ده).
شاخ (چه پښتانه خانګه ورته وایی).
خانه (په پښتو کی د کور کلمه مستعمله ده) .
خار (چه پښتانه داغز ي کلمه استعمالوي) .
پاره (په پښتو کی یې معادله کلمه خیري ده) .
اوداسی نور ...

څلورمـ بله د اچه یوازي دژبی دفعالی پانګی او غیر فعالی پانګی تشخیص هم ټول مشکلات نه شی حل کولای . ځکه سر بیره پردې بل مشکل چه مؤلف ورسره مخامخ دی د کلمو پوره او سمه ترجمه ده . کله چه څوک د قاموس څخه استفاده کوي دده دپاره یوازي دلغاتو فهرست کوم ارزښت نه لري بلکه دده زیاته دلچسپی د لغاتو د سمی ترجمې، سمی معنا او سم استعمال سره ده . او جوړی دوه ژبیز قاموسو نه دخپل

حجم او کمیت په لحاظ قادر نه دي چه دغه پور تنی وظیفې پرغاړه و اخلی او په سم ډول يې سرته ورسوي، ځکه ددې ډول قاموس مؤلف مجبور دی چه ډیر کوښښ وکړي ترڅو د کلمو معنا په ډیر مختصر ډول د مترادفو کلمو په واسطه افاده کړی . او دغه علت دی چه د اکثرو کلمو معناوی نیمګړي او یا مجهولی پاتیږي او لوستونکی يې له فهم څخه عاجزوي . یو مثال به راوړم . دلیبید یف په (روسی - پښتو چیبی قاموس) کی دروسی ژبی د کلمې (iena) ترجمه په پښتو (ییین) شوې ده . نو تر څوچه لوستونکی بل قاموس ته رجوع و نه کړي په دغه ترجمه نه شی پوهیدای .

له بلې خوا په هره ژبه کې ډیري داسی کلمې شته چه یوه معنا نه بلکه ډیري معناوي لري . او دا معناوي هغه وخت ښه څرګندیږي چه د دوو ژبو مترادفی کلمې سره مقایسه کړو .

دژبو دتاریخی شرایطو د بیلوالی او خاص تکامل په لحاظ د دغه ډول کلمو ټولی معناوی مطابقت نه سره لري . که ځینی معناوي يې سره نږدې وي نو بیا ځینی معناوي يې پوره فرق سره لري .

دلته به یو مثال راوړم : د (کور) کلمه په پښتو کی دا لاندې معناوي لري :

۱ - تعمیر چه خلک پکښې او سیږی .

۲ ـ کورنی ، کهول .
۳ ـ وطن .
۴ ـ ښځه ، د کور څښتن .
الف ـ ښاغلی .
ب ـ د تعمیر خاوند .
۵ ـ هغه کالی او شیان چه په واده کی یې پلار خپلی لورته ورکوي .
۶ ـ دستر نج خانې .
۷ ـ دیوه جدول هری وړې برخې ته هم کورویل کیږي .
همدارنګه سر بیره پرې د (کور) کلمه په متن کی ځینی نوری معناوي هم پیدا کولای شی .
مګرک . ا . لیبیدینف په خپل (پښتو ـ روسی جیبی قاموس) کی د (کور) کلمه په روسی یوازې په (dom) سره ترجمه کړې ده . مګر دا روسی کلمه د (کور) ټولی معناوی نه شی افاده کولای ځکه (dom) په روسی ژبه کی د (ښځه ، ښاغلی ، هغه کالی او شیان چه په واده کی د پلار له خوا خپلی لورته ورکول کیږی ، دستر نج خانې ، دجدول وړه برخه) په معنا وونه استعمالیږي . یوازې د (کور) او (dom) کلمې په څونورو معنا و و کی سره مشترکی دي .

د لپېيد يف په (روسي- پښتو جيبي قاموس) کې (rabota) په (کار) سره ترجمه شوې ده، خو دا ترجمه کافي نه ده. سره له دې چه (rabota) او (کار) په ځينو معناوو کې سره يوشي دي خو بيا هم په ځينو معناوو کې يې فرق موجود دی (rabota) په روسي ژبه کې د (اثر، چاپ شوي کتاب) په معنا هم استعمالېږي مګر د پښتو کلمه (کار) دغه معناوي نه لري.

د دغو پورتنيو مثالونو څخه دا څرګنديږي چه د دوو ژبو مترادفي کلمې په خپل منځ کې مشترک او متضاد روابط لري او وا ړه دوه ژبيز قاموسونه د خپل حجم په لحاظ نه شي کولای چه دغه پيچلي اړيکې وسپړي. بلکه برعکس دغه وا ړه جيبي دوه ژبيز قاموسونه لوستونکوته ديوې ژبې د لغاتو د معنا په برخه کې يوغلط تصور ورکوي.

زه د پورتنۍ تحليل په اساس دې نتيجې ته رسيږم چه جيبي دوه ژبيز قاموسونه د هغو وظيفو له عهدې څخه نه شي وتلای د کومو د پاره چه جوړيږي.

پښتو-روسی قاموس

په ۱۹۶۶ کی په مسکو کی (پښتو-روسی قاموس) خپریږي چه مولف یې م. گ. اسلانوف او مهتمم یې ن. ا. دوریانکوف دی. دا قاموس د مؤلف له قوله پنځوس زره لغتونه لري. د دې قاموس خپریدل د پښتو قاموس لیکنې په تکامل کی یوستر گام بلل کیږي. دا قاموس هم د کمیت او هم د کیفیت له پلوه د ټولو پښتو قاموسونو سره چه تر اوسه خپاره شوي او زموږ لاس ته راغلی پوره تویږي لري. په دې قاموس کی ډیره توجه شوې چه د پښتو لغتونو معناوی په کافی اندازه وسپړل شی. د نورو قاموسونو په خلاف په دې قاموس کی د مختارو او روستارو معناوی په شه ډول سره خپړل شوي دي. د لغتونو د استعمال د ساحې د تعین د پاره سبکی اشاري راوړل شوي دي. په نورو پښتو قاموسونو کی دغومره سألوته کافی توجه نه ده شوې. که څه هم دا قاموس په عمومی ډول تر ټولو پښتو قاموسونو چه تر اوسه په افغانستان کی او د باندې له افغانستانه خپاره شوي شه دی. خو بیا هم ځینی نیمګړتیاوي لري. څنګه چه د دې قاموس شې او نیمګړي خواوي په وروستیو مقالو کی په مفصل ډول شوول کیږي نو دلته به یوازی پر هغو ټکوو ږغیږو چه په قاموسی مقاله کی یې یادونه نه کیږي.

اول: ټرانسکرپشن. اسلانوف په خپل قاموس کې د پښتو کلمو د تلفظ د پاره د ټرانسرپشن یو مرکب سیستم انتخاب کړی چه په هغه کې اکثراً د روسی تورو او د ځینو اوازونو د تلفظ د افادې د پاره لاتینی تورو څخه استفاده شوې ده (۱) څنګه چه د پښتو ژ بې او ازو نه د روسی ژ بې دګر ا فیک سیستم په واسطه په ښه ډول افاده کیدای شی نوهیڅ ضرورت نشته چه دلا تینې تورو څخه دی مرسته وغوښتل شی او یومرکب سیستم دی غوره شی. همدارنګه د پښتوژ بې د (ښ) او (ږ) داوازونو د تلفظ د پاره د اسی ګرافیک سیمبولونه انتخاب کړی چه له یوې خوا د عنعنوي روسی ټرانسکرپشن سره مخالفت لري، ګوم چه د اکثرو روسی ژ بپوهانو له خوا د پښتو ژ بی د پاره منل شوي دي. (روسی ژ بپوهانو د (ښ) او (ږ) د پاره د روسی ژ بی الفباء څخه د اسی سیمبولونه انتخاب کړي چه په روسی ژ به کی تقریباً د (ښ) او (ږ) په ډول اوازونه لری، او له بلی خوا

---

۱. ز. م. کلینیه هم په خپل کتاب (د اوسنی ادبی پښتو لېکسیکا لوژ ي) چه په ۱۹۷۲ کی خپور شو ی دی د ټرانسکرپشن په برخه کی یې د اسلانوف پیروي کړې ده.

د پښتو ژبې د ګرافیک سیستم سره پوره مطابقت نه لري.) (۱)
کله چه دیوې ژبې د کلمو تلفظ په ټرانسکرپشن سره لیکل کیږي باید په ټرانسکوپشن کې د ګرافیکو سیمبولونو او اوازونو سیستم په نظر کې ونیول شي او کوم سیستم چه د سیمبولونو او اوازونو ترمنځ موجوددی باید وران نه شي که چیرې کوم تغیر او نوی والی پکښې راوړل کیږي هغه باید د اوازونو د تلفظ د ښې افادې په غرض وي نه داچه له یوې خوا پکښې مشکلات او ګډوډي خلق کړي ، او له بلې خوا د ژبې د ګرافیک سیستم سره مطابقت ونه لري .
له بده مرغه د ټرانسکرپشن کوم سیستم چه په پښتو-روسي قاموس کې استفاده ځینې شوې ده نیمګړی او غیر اصولی ښکاري .

دوهم: بله مهمه موضوع چه په دې قاموس کې پوره توجه نه ده ورته شوې هغه د قاموس اصلي شکل دی. د ژبپوهنې د انکشاف له کبله نن ورځ قاموسونه پر بیلو بیلو ډولونو ویشل کیږي چه هرډوبې ځان ته خاص حدود اوټاکلی معیارونه لري .

چه دلته یې یو ازی د نومونو یا دونه کوو :

۱ . د طباعتی مشکلاتو له پلوه اوس نه شو کولای چه د پښتو ژبې او روسی ژبې ګرافیک سیستمونه او اوازونه سره مقایسه کړو .

قاموس: ۱- ژبنی قاموس، ۲- اینسا یکلوپیډیا .

ژبنی قاموس : ۱- دوه ژبیز (خوژبیز) قاموس

۲- یوژبیز قاموس

دوه ژبیز (خوژبیز) قاموس :

۱- دیوې کورنی دوه ژبیز قاموس .

۲- دبیلوبیلوژ بودوه ژبیز (خوژبیز) قاموس .

یوژبیز قاموس: لهجوی قاموس - د ژبنیو اصطلاحاتو قاموس - د تلفظ قاموس - احصائیوی قاموس د یوه لیکوال قاموس - دخارجی کلموقاموس - تاریخی قاموس - ایتمالوژیکی قاموس - مشرح قاموس (دالفبا په ترتیب) - مشرح قاموس - (اشتقاقی ترتیب) - ایډیالوژیکی قاموس - او بنتی قاموس - د مترادفو کلموقاموس - دلیک دودقاموس - دبیلوبیلوعلومو (لکه: ژبپوهنه، ادبیات، اقتصاد، سیاست فزیک، کیمیا، بیولوژی ...) داصطلاحاتو قاموسونه . داسلانوف دقاموس یوه نیمگړتیا دقاموس غیر معین ډول دی. دوه ژبیز قاموسونه تر ډیره حده پرلیکلې ژبه اتکاء کوی اوداسلانوف ددوه ژبیز پښتو - روسی قاموس اصلی هدف به زمانه پعقیده داوي چه کوم روسی چه پښتو ژبه زده کوی. دپښتومتن دلوستلو په وخت کی چه دکومونا اشنا کلموسره مخامخ کیږی، نودهغود پیدا کولو دپاره دغه قاموس لتوی ترخو

چه خپل مشکلات حل کړي. مګر په دې قاموس کې د دغه اصل مراعات ترڅو پرې حده پورې نه دی شوی. په پښتو ژبه کې د (ړ) او (ښ) تورې د لهجوي اختلافاتو له کبله په ځینو لهجو کې د (ړ) او (ښ) اوازونه او په ځینو کې د (ګ) او (خ) (۱) آوازونه افاده کوی چه په تاریخی لحاظ او هم اوس په پښتو لیک کې د پورتنیو آوازونو دا فادې د پاره د (ړ) او (ښ) سیمبولونه تا کل شوي او منل شوي دي. مګر اسلانوف د منل شوي پښتو رسم انخط په خلاف دوارهڅوله تلفظونه (آوازونه) په بېلو بېلوتورو سره په مستقلو قاموسی مقالو کې راوړي لکه:

ښاغلی ـ خاغلی
ښار ـ خار...
زیږ ـ زیګ
سپوږمی ـ سپوګمی...

د اسلانوف دغه چول روش څوتاوانه لري:

۱ـ د پښتو ژبې د منل شوي لیک دود څخه مخالفت دی او په لیک دود کې یوډول ګډوډي پېښوي او کومه علمی او یا عملی ګټه هم نه لري.

۲ـ غیر اقتصادی کار دی. په پښتو ژبه کې بیخی د پېړی کلمې شته چه دهمدې سیتود په اساس تولی باید لږتر لږه دوه واره په مکرر چول سره په قاموس کې ولیکل شی. ده د پښتو ژبې تولی لهجې په نظر کې ونیول شی نو په هغه صورت

۱. مګر د خوست په لهجه کې بیا نه (ښ) دی او نه (خ) بلکه د (ښ) او (خ) ترمینځ یوډول اواز دی.

کی به ډېری کلمې څوشو واره په قاموس کی ثبت شی.

۳ـ دا روش اصلا غیر اصولی دی .ځکه داقاموس دوه ژبیز دی نه د ببلو ببلو لهجود تلفظ قاموس. که چیری قاموس لیکونکی غواړی چه دیوې ژبې دتولو لهجود خاصواو مختلفو ـ تلفظو نو یوژبیز قاموس جوړ کړی. په هغه صورت کی مجبور دی چه که یوه کلمه دلهجوی اختلافاتو په وجه څو ډوله تلفظونه هم واری ټول اشکات بې ثبت کړی .ددې کار د پاره به ښه داوی چه مستقل قاموس (دتلفظ قاموس) جوړ شی، نه داچه دوه ژبیز قاموس او نور قاموسونه سره گډ شی.ځکه چه هر قاموس بیل پرنسیپونه لری او د ببلو ببلو مقصدونو په غرض جوړیږی .

روسی ـ پښتو قاموس :

داقاموس په ۱۹۷۳ که په شوروی اتحاد کی خپور شوی دی. دروسی ـ پښتو قاموس لیکونکی ك.ا.لبیدیف،ل. س .یاخنویچ ،او ز.م. کلینینه دی.

داقاموس نږدې ۳۲۰۰۰ لغتونه لري(ددی قاموس د لیکونکو په قول). خرنگه چه روسی پښتو قاموس ددې دوړې دنورو قاموسونو سره د اصولوله پلوه گوم خرگند توپیر نه لري او هم ز موږ د خبرې نو اصلی مقصد پښتو قاموسونه دی ، نو د دې قاموس په برخه کی دغه لنډه یاد و نه کافی گڼل کیږی .

دو همه برخه

قاموسی مقاله

دلغتونو انتخاب :

دمخه تردې چه د لغتونو د انتخاب اساسی مسألې په پښتو قاموس او د اسلانوف په پښتو- روسی قاموس کی په ژور نظر سره وکتل شی باید داوسنی ادبی پښتو دلغوی پانگی مشخصات په لنه ډول وښوول شی .

په معاصره ژبپوهنه کی دایومنل شوی حقیقت دی چه خارجی عوامل دیوې ژبی په تاریخی تکامل کی سترول لري . یوله دغو عواملو څخه دټولنی اقتصادی - تاریخی مرحله اود دولت شکل دی. دمثال په ډول ، دیوې ژبی موجودیت دلهجو په شکل دفیو ډالیزم ددورې یوځرگند خصوصیت دی .

لکه څنگه چه په فیوډالی دوره کی اقتصادی او سیاسی مرکزیت ضعیف وي همداسی په دې دوره کی دیوې ژبی د لهجو ترمنځ فاصله زیاته او تماسونه لږوي . نو ځکه په داسی ټولنو کی ژبه یومعیاری او عمومی بڼه نه لری ، بلکه د بېلو بېلو لهجو په شکل څرگندیږی . هره تاریخی دوره دټولنی په ژوندانه کی یوخاص اجتماعی او اقتصادی تشکل منځ ته راولی . څرنگه چه ژبه دټولنی دشعور د

انعکاس او څرګندونې وسیله‌ده نودغه خاص اجتماعی او اقتصادی تشکل په‌ژبه کی منعکس کیږی . چه‌په همدې اساس دټولنی دتولیدي قواوو، تخنیک‌او کلتور دانکشاف په وجه نوي مفاهیم منځ‌ته راځی اودا په خپل وار دا غواړی چه‌د ژبی په وسیله افاده شی . دژبی دتا ریخی تکامل دخارجی عواملو څخه یوهم ژبنی تماسونه دي . نن و رځ بـه یـوه دا سی ژبـه هـم نـه وی چه‌په خپل تکاملی جریان کی‌دی دنورو ژبو له‌تأثیر څخه بې برخی پاته‌وي . دځینو ژبپوهانو په‌عقیده ټولی ژبی په عمومی ډول (مخلوطی) ګڼل کیدای شی. (۱)

د پښتو ژبی لغوی پانګه هم‌په‌خپل تاریخی تکامل کی د بېلوبېلو تغییراتو سره‌مخامخ شوې ده .

ځینی‌لغتونه له‌منځه تللی اوزاړه شوي‌دي اوځینی‌بیا نوي‌راپیدا شوي‌دي .

په عمومی ډول داوسنی ادبی‌پښتو ژبی لغوی پانګه د دوو برخوڅخه تشکیله شوې‌ده .

یوه‌برخه د پښتو ژبی خپلی کلمې‌دی اوبله برخه هغه کلمې‌دی چه‌د نورو ژبو لکه عربی ، فارسی ، ترکی ،

---

۱ . ګ . ا . کلیمف . ژبنی‌تماسونه . عمومی ژبپوهنه . م.، ۱۹۷۰ ، ۲۸۵ مخ .

هندی ، انګلیسی او نورو ارو پایی ژبو څخه د تاریخ په اوږدو کی پښتو ژبې ته ورننوتی اود تاریخی ضرورت پر اساس استعمال شوي او هم اوس استعمالیږی . د دغیلی پانګی ستره برخه هغه کلمې دی چه د عربی ژبی څخه پښتو ته ورننوتی اودژوندانه په ټولو بیلو اړخونو کی استعمالیږی لکه ، مذهبی اصطلاحات : جنت ، صراط ، اعراف ، صحابه طواف ، صدقه ... ، تعلیمی او تربیوی اصطلاحات : معارف ثقافت ، تعلیم ، اخلاق . حقوقی او قضایی اصطلاحات : محکمه ، قاضی ، عدلیه ، استنطاق ، عدالت ...
اجتماعی او سیاسی اصطلاحات : مبارزه ، طبقاتی ، استعمار ، استثمار ، اضداد . اداری او دولتی اصطلاحات : صدارت ، وزارت ، مامور یت ، کاتب ، مدیر ، مامور ، رئیس ، وزیر ، صدر اعظم ... تقریباً ټول ګرامری اصطلاحات : صرف ، نحو ، صفت ، فعل ، مصدر ، ضمیر ... سر بیره پردې عربی کلمې د پښتو ژبې په نورو برخو کی هم استعمالیږی . لنډه داچه ویلای شو چه مشکله به وی چه په پښتو ژبه کی دی داسی ساحه موجوده وي چه هلته دی عربی د خیلی کلمې نه استعمالیږی . دب . ز . خالیدف په عقیده . داوسنی ادبی پښتو ژبی په لغوی پانګه کی په سل کی پنځوس عربی د دخیلی کلمې دي . همدارنګه عربی دخیلی کلمې په پخوانیو

پښتو اثارو کی هم په زیاته اندازه لیدل کیږی. مثلا ، د شپارسمی پیړی د لیکونکی بایزید انصاری په لیکنو کی په سلو کی شل ـ دا خوند در ویږه په لیکنو کی په سلو کی دیرش ـ د اتلسمی او نولسمی پیړیو په اشعارو کی په سلو کی ترد برشو، څلو پښتو پوری عربی دخیلی کلمې استعمال شوی دی . مګر په پښتنی فولکور کی عربی دخیلی کلمی لږ استعمال لری چه تقریباً په سلو کی له درو څخه تر اتو پوری عربی د خیلی کلمې موجودي دی .(۱)

دا چه د عربی ژبی څخه پښتوته ډیری کلمې ننوتی کومه تصادفی خبره نه ده بلکه تاریخی علتونه لري . له یوې خوا عربی ژبی د ختیځو اسلامی هیوادونو د کلتور په تاریخ کی ستر رول لوبولی دی . هم دا وجه ده چه کله کله عربی ژبه حتی د شرقی لاتینی ژبی په نامه یادیږی. له بلی خوا دا چه عربی یوه دینی ژبه وه ، له دې پلوه هم هرو مرو دټولو اسلامی هیوادونو ژبی بی تأثیره نه دی ځنی پاته شوی. نوطبیعی خبره ده چه د همدا سی عوا مل له کبله پښتو ژبی ته هم زیات عربی لغتونه ور ننوتی دي . همدا رنګه پښتو د فارسی ژبی څخه هم بې تأثیره نه ده پاته

۱. ب. ز. خالیدف. په اوسنی ادبی پښتو کی عربی دخیلی کلمی. د دکتورا د تیزس لنډیزه، تاشکند، د ثمر قند پوهنتون، ۱۹۵۲، ۶ مخ

شوي څکه ديوي خواد پښتو او فارسي ويو نکو ګډ ژوند او تماسونه او دبلي خواد اچه فارسي ددوو پيړو په او ږدو کي د افغانستان يوازني رسمي ، دولتي او د معارف ژبه وه. پرته دعربي او فارسي ژبو څخه دترکي او هندي ژبو څخه هم ځينې لغتونه پښتوته ورننوتي دي. دوروستيو شلو ديز شو کلونو په او ږدو کي دعلمي ، اجتماعي ، تخنيکي او اقتصادي روابطو د تکامل په سبب دار وپايي ژبو څخه علمي، تخنيکي، اقتصادي، او بين المللي سياسي اصطلاحات پښتوته ور داخل شوي او عام استعمال يي سو ندلي دي چه دي کار د پښتوژبي لغوي پانګه لا پسي درنه کړه .

د پښتوژبي دلغوي پانګي د مشخصاتو دلنډي يادونې څخه وروسته به اوس داوخيړو چه په پښتو قاموسونو کي د پښتو لغوي پانګي دانتخاب په برخه کي د کومو پرنسيپو نو څخه کار اخيستل شوي دي .

پښتو قاموس: په پښتو قاموس کي زياتره هغه لغتونه ثبت شوي چه د پښتو (اصلي) لغتونه ګڼل شوي او يا داچه له دغو لغتونو څخه په اشتقاقي ډول جوړ شوي دي. په همدي اساس په دي

قاموس کې اکثراً هغه لغات راغلی دی چه په عا میانه او محاوری ژبه کې مستعمل دي. مګر هغه لغتونه چې لږ ثبت شوی چه اجتماعی او علمی مفهومونه څرګند ولای شی. ددې علت دادی چه دغه ډول لغتونه یعنی اجتماعی، علمی، اقتصادی او سیاسی اصطلاحات تر ډیره حده پورې د پردیو ژبو څخه پښتوته ورننوتی. که څه هم دغه ډول دخیل لغتونه د پښتو ژبې دفعالی لغوی پانګې اساسی برخه تشکیلوی او د پښتو ژبې په علمی او ادبی لیکنو کې زیات استعمالیږی، خو بیا هم د نورو ژبو قاموس لیکونکو دهغو د ثبتولو څخه ډډه کړې ده.

ددې قاموس له لوستلو څخه سړی دې نتیجې ته رسیږي چه لیکونکو به نه غوښتل خه پردی کلمی دی په دې قاموس کې راوړل شی. خو سره ددې هم د دوو سو و کلمو په حدود کې پردي لغتونه ثبت شوی دی چه د لیکو نکو له خوا د مغنو یا مشترکو کلمو په نامه یاد شوی دي. او یوځو محدود (دلسو په شاو خوا کې) لغتو نه هم د دخیلو په نامه راوړل شوي دي (لکه: ناموس، نبی، غنی، کرت، نرګس، لام). کوم لغتونه چه د لیکو نکو له خوا د مشترکو یا مغنو په نامه ثبت شوي اکثراً دد خیلو کلمو سره د پرنسیپ له پلوه کوم توپیرنه لري.

اوس به دهرگروپ څخه دنمونې په ډول ځینې لغتونه د دغه قاموس څخه را وا خلو .

مغفنی کلمې :

کو ز ه (قبضه)

کوایت (قواعد)

لـو ز (لـفـظ)

ما بوب (محبو ب)

ما مور (معمور)

ما مله (معا مله)

کتل (قتل) ...

مشترك لغتونه :

خير

د نيا

ميد ان

کـبر

گـرمه

ملنـگ

نا ز

اپرين

هوس ...

په پښتو قاموس کې دمغنو او مشتر کو کلمو په برخه کې هیڅ یوه یادونه نه‌ده شوې چه په دې برخه کې د لیکونکو اصلي هدف او پرنسیپ څنې څرګند شوی وای. خو کله چه هغه لغتونه چه په قاموس کې ددخیلو، مغنو او مشترکو په نامه یاد شوي دي سره مقایسه کړو دا څرګنديږي چه ددغو لغتونو ترمنځ د پرنسیپ او اصولو له مخه کوم توپیر نه لیدل کیږي . (۱)

دځینو څیړونکو په عقیده پښتو ژبې ته دتر کي ژ بوڅخه په ډېر لغتونه ننوتې دي خو په دې قاموس کې داسې لغتونه ډېر لږ لیدل کیږي چه هغوته دې کومه داسې اشاره شوې وي چه دتر کي ژ بوڅخه پښتو ته راغلي او یا دتر کي ژ بوڅخه مغن ګنل شوی وي (لکه، چاکو). په دې قاموس کې ځینې داسې کلمې لیدل کیږي چه اصلاً دتر کي ژ بوڅخه پښتو ته ور ننوتې دي خو دقاموس لیکونکو هغه را اخیستې او بې له کومې یادونې څخه يې ثبت کړي دي لکه : کارګه ، ورشو ،

۱ . دمغنو او دخیلو کلمو په برخه کې وګورئ . زیري ، دکتور هلالي . د پښتو لغت پوهنې کتاب ته یوه کتنه . د پردیو کلمو استعمال .- ۱۳۵۱ ، ۴۸ ګڼه .

تنګه ، چول ، کاچوغه ، او داسی نور ... (۱)

داروپایی ژبوڅخه پرلغتونه او اصطلاحات پښتوته داخل شوي او اوس هم مستعمل دي . د اکثرو دپاره یې اوس په پښتو ژبه کې معادل شکلونه هم نشته (لکه ، پاسپورټ ، پلان ، پاکټ ، پیلوټ ...) مګرپه پښتو قاموس کې ددغه ډول دخیلو کلمو څخه یوازې دوې کلمې راوړل شوي دي: کوټ (بالاپوش) ، واسکټ.

څرنګه چه د پښتو قاموس لیکونکی په دې هڅه کې وو چه سوچه پښتو لغتونه ثبت کړي نو کله کله د ځینو پردیو کلمو دایتمو لوژیکی څېړنو په ترڅ کې د اشتباها تو سره مخامخ شوي دي . مثلاً : (پتنوس) یوه روسی کلمه ده چه د خپلو ټولو مشتقاتو سره په روسی ژبه کې ژوندی ده خو قاموس لیکو نکو دغه کلمه په پښتو قاموس کې داسی ثبت کړې ده : (پیټنسی) از کلمه (پیټ) به معنی پچق و پائین و (نس) یعنی شکم ساخته شده است و شاید (پتنوس) هم ازهمین ریشه باشد . (۲)

---

۱ . و گوی : م.گ . اسلانف . په پښتو ژبه کې د ترکی ژبو دخیلی کلمې . د مسکو د ختیځ پیژندنې د انستیتوت آثار ، ۴ ګڼه ، ۱۹۴۷ ، ۵۶ - ۶۹ مخ .

۲ - پښتو قاموس . لومړی ټوک ، ۲۱۲ مخ .

په پښتو قاموس کې دزړو لغتونو د ټيټولو په برخه کې د کوم مشخص پرنسيپ څخه پيروي نه ده شوې .

تقريباً د ځلويښتو کلمو سره سبکې اشارې ليکل شوي دي جه دغه اشارې دهغوی د استعمال ساحه اوزوړوالی تاکي لکه : اره ، لور ، اټکل ، پرتمين ، پسولل ، خاتيځ ايږ ، پاړکی ، پلن ، ځنډ ، خونول ، رونړل ، جګړن ، باړل اوداسی نور ...

مګر د بلی خوا په دې قاموس کې نور ډير داسی زاړه لغات ثبت شوي دي خوهغوته کومه سبکې اشاره نه ده ليکل شوې لکه : غوږن ، دښن ، دريځ ، تون ، زړن ، ستايوال ، لونل ، سير ځی ، جونډی ، رپ ، سوبه ، ښکلل ، ګروهيدل ، لوړاوی ، روغی ، اوداسی نور ... همدارنګه ځينې نوری داسی زړې کلمې شته چه دپور تنيوزړو کلمو سره يوځای په پخوانيو ادبی ليکنو کې ليدل کيږي اوداستعمال له پلوه هم دپور تنيوزړو کلموسره کوم توپير نه لري خو پښتو قاموس نه دي اخيستی لکه سولل ، باړی ، تيکنه ، سين ، کورول ، مخسور ، من ، سمی ، شنار ، ملا ، اوداسی نور .

پښتو - روسی قاموس : د پښتو قاموس په خلاف په دې قاموس کې د پښتو کلمو په څنګ کې د خيل اجتماعی ، سياسی او علمی لغات هم ثبت شوي دي .

څرنګه چه اسلانف ته د اپوره څرګنده ده چه يوې ژبې ته د نورو ژبو څخه کلمې او اصطلاحات داخليدل يو تاريخي واقعيت دی. نو ځکه په خپل قاموس کې هغه پر دی کلمې چه د نورو ژبو څخه پښتو ته راغلی او اوس مستعملی دی ثبت کړي مثلا :

عربی دخيلی کلمې :

اضداد، طبقات، سياسی، مبارزه، استثمار، منطق، روحيات ارتجاع، استبداد، معيار، اقتصاد، حقيقت، مطلق.

دارو پايی ژبو څخه دخيلی کلمې :

انارشيزم، ديسپلين، امپرياليزم، بورژوازي، ديالېکتيک، ديپلومات، پاسپورت، ريالېزم، فيلريشن، فاشيزم، کپيټاليزم، ليبرل، سوسياليزم ....

د اسلانف نظريه او لاره تر ډيره ځايه د واقعيت سره سمه او علمی ده.

ځکه د پردې ژبو دغسی لغتونه په اوسنۍ ادبی پښتو کی زيات استعماليږي او د پښتو ژبی دلغوي پانګی فعاله برخه ګڼل کيدای شی. مګر سره له دې بيا هم په دې قاموس کې ډير داسی پردي لغتونه راغلی دي چه ثبتولو ته يې کوم ضرورت نه ليدل کيږي، ځکه چه په مقابل کې يې مستعملی اوژوندی پښتو کلمی شته، لکه: جوی، خانم، خاک پا، آمدن، درون، زنبور، سرفه، کارد، نماز، پاسخ او داسی نور ....

ځینو دری کلمونه لیکل شوي دي چه لږ استعمالیږي لکه: استخوان، پشم، سنګ، آتش، خنک، ابر، افتاب، ابرو او داسی نور ...

دزړو کلمو په برخه کی ددې قاموس او پښتو قاموس ترمنځ کوم توپیر نه لیدل کیږي. اسلاف هم په خپل قاموس کی ځینی زاړه لغتونه راوړي او ځینی یی بیا نه دي ثبت کړي.

خرنګه چه دا قاموس دزړو لغتونو په برخه کی د پښتو قاموس سره د پرنسیپ له پلوه کوم اساسی توپیر نه لري نو په دې برخه کی زیاتو توضیحاتو ته ضرورت نه لیدل کیږي.

او نیمونه (۱)

دا مونیمونو پیژندنه هم د تیوری د پلوه او هم په عملی ډول د لیکسیکالوژی او قاموس لیکنی یوه مهمه مساله ده. همدا وجه ده چه دې مسالې د ډیرو ژبپوهانو او قاموس لیکونکو توجه ځان ته راګرځولی ده. دا سو نیمونو دتاکلو او په قاموس کی د هغوی ثبتولو په برخه کی یملی یملی نظریې خرګندی شوی دی، خو ددې موضوع د پیچلتوب له کبله تر اوسه پورې ژبپوهان کومې واحدې تیوریتیکی او

---

۱. هغه لغتونه چه تلفظیې سره ورته او معنا وی یې سره یملیږي وی امونیمونه ګڼل کیږی لکه:
تور (تهت)، تور (د سپین ضد) ـ کوټه (باطل)، کوټه (خونه).

علمی فیصلی ته نه دي رسید لی او ددوی دنظر یو تر منځ سترتو پیر لیدل کیږي .

تر(۱۹۳۰-۱۹۴۰) کلونو پور ی د شور وی اتحاد په قاموس لیکنه کی دامو نیمونو دټا کلواو په قامو سونو کی دهغوی دټبتو لو په برخه کی په عمومی ډو ل یو نظر موجو دو . او هغه داچه دد و ی په عقیده هغه لغتو نه امو نیمو نه ګټل کیدل چه دریښو په لحاظ سره بیل او تلفظ یې یوډول و . مګر کوم قاموسونه چه بیاد ۱۹۵۰ کلونوپه شاوخوا کی خپاره شوی دامونیمونو دتعریف په برخه کی دزاړه اوعنعنوی روښخخه اوښتی دي. په دې قامو سونو کی نه یوازی هغه لغتونه امونیمونه ګټل کیږی ، کوم چه تلفظ یی سره ورته وی او دریښو په لحاظ سره بیل وی، بلکه هغه لغتونو هم امونیمونه ګټل کیږ ی ، کوم چه تلفظ یې یوډول وي او دلغتونو دټا ریخی تکامل پر اساس دیوې کلمې د بیلو بیلو معنا وو دبیلتون په نتیجه کی منځ ته راغلی وي. دغه وروستی تعریف پر هغه ژبنی میتود بنا دی چه د شلمی پیړی دعلمی تحقیقا تو د پراختیا په نتیجه کی منځ ته راغلی او په ننني ژبپوهنه کی دستروکتور الیزم په نامه یادیږي. دستروکتور الیزم پیروان په خپلو ژبنیو څیړنو کی دژبی او سنی حالت ته زیات ارزښت ورکوي . په همدې

اساس ددوی د تحقیقاتو اصلی هدف دژبې د اوسنۍ حالت څېړنه ده. که څه هم دوی په خپلو تحقیقاتو کې تاریخي میتود له نظره نه اچوي. اکادیمیک و.و. وینګرادف لیکي: دژبې په تاریخ کې د کلمو په معنوي سرحدونو کې بدلون او اختلاط پیښیږي. چه د همدې بدلون په اساس دیوې کلمې لغوي- فراز یا لوژیکي اشکال په مستقلو کلمو- اسونیمونو بدلیږي او هم برعکس اسونیمونه د اتصال او اختلاط په نتیجه کې دیوې واحدې کلمې اشکال ګرځي (۱).

ل.ل. کوتینه په خپلو څېړنو کې د اسي نتیجې ته رسیدلې ده: ځنې د اسونیمونو اصطلاح د هغو کلمو د پاره استعمالیږي چه د تلفظ ورته والی یې تصادفي وي او یا د اچه دیوې کلمې د یېلو یېلو معناوو دلیږي والی په نتیجه کې منځ ته راغلی وي (۲).

که څه هم د اسونیمونو په بر خه کې دد غه ډول نظر تائید د شوروي اتحاد دزیاترو مشهورو ژیپوهانو لکه:

---

۱. و.و. وینګرادف. د کلمې شکلونه. د علومو د اکاډیمۍ خپرونه. دژبې او ادبیاتو څانګه، ۳ټوک، ۱۹۴۴، ۴۳۳ مخ.

۲. ل.ل. کوتینه. د اسونیمونو مسأله او د اوسنۍ روسي ژبې په قاموسونو کې د هغوی انعکاس. د قاموس لیکنې مجموعه، ۴ټوک، م.، ۱۹۶۰، ۵۸۰ مخ.

پروفیسر یو.س. ساسلف ،س. اخمانوه، ل.ا. نوویکف،ك.
ا.تیمفییف، م.م. فلکوویچ ،س.ی. او ډیګف او داسی
نورو... په اثارو کی لیدل کیږی او په درسی کتابونو
کی هم دغه ډول نظر منعکس کیږی ، خو بیا هم دتولو
ژبپوهانو له خوا نه تائید یږی .

دستروکتورالیزم په مقابل کی یوبل ژبنی میتود واقع
دی چه د ۱۹ پیړی په ژبپوهنه کی یوازنی علمی میتود ګڼل
کیدای شی او دمقایسوی-تاریخی میتود په نامه یادیږی.
څرنګه چه دمقایسوی-تاریخی میتود پیر و ان په ژبنیو
تحقیقاتو کی تردیره حده پرتاریخی پیښو اتکاء کوي او
ددوی دپاره یوازنی علمی میتود مقایسوی-تاریخی میتود
دی، نوددوی نظرهم دا سو نیمونو په برخه کی دستر و
کتورالیستانو سره توپیرلری. دمقایسوی-تاریخی میتود
پیروان یوازی هغه لغتونه اسو نیمونه ګڼی چه تلفظ یې یو
ډول وي خودایتمولوژی له نظره هیڅ ارتباط سره ونه لری او په
تاریخی لحاظ دیوې ریښې څخه سرچ ته نه وي راغلی .
دغه نظریه په ډیر صراحت سره دو.ي. ابایف په اثارو کی
لیدل کیږی. و.ی. ابایف وایی چه په ژبه کی په واقعی
ډول دوي مختلفی پیښی لیدل کیږی چه یوه یې دبلی سره
هیڅ ډول ارتباط نه لری. دغه دوي پیښی یوه دا مونیمی په

نامه او بله یې د پلیسیمی (۱) په نامه یادیږي . ددې دوو پیښو ترمنځ هیڅ ډول پلونه او ګډ سرحد ونه نه لیدل کیږي . نه پلیسیمی په اسونیمی بدلیدای شی او نه هم اسونیمی په پلیسیمی بدلیدای شی (۲) . په همدې اساس ایف معتقد دی چه د پلیسیمی او اسونیمی په بیلو لوکی پرهغه میتود اتکاء کول، کوم چه دژبې داوسنی حالت پرخیړنو اکتفا کوي، خیړونکی له واقعیت څخه لیرې کوی .

ځکه دا میتود د پلیسیمی او اسونیمی سرحد و نه سره ګډوي او ددې په عوض کی چه ددې میتود په وسیله په واقعی ډول د لغتونو معنوی سیستم و سپړل شی د هغه معکوسه اوګډه بڼه څرګندیږي .

همدارنګه وي . ایف دتاریخی میتود په رڼا کی اسونیمی او پلیسیمی داسی سره بیلوي :

---

۱. ګله چه یوه کلمه څو معناوي ولري نودغسی پیښې ته پلیسیمی وایی، لکه، د اړول کلمه چه داسی معناوي لري . اړول: ۱) یوشی پربل مخ کول، پرمخی کول، ۲) کریابول، محتاجول، ۳) بیرته ګرځول، پښیمانه کول، له لاری ایستل، عقیده وربدلول .

۲ . و . ی . ایف په قاموسونو کی د اسونیمونو ثبتول . د ژبپوهنې مسالی، ۳ ګڼه، م . ، ۱۹۵۷، ۳۳-۴۰ مخ .

ا) هغه یو ډول ږغیز لغتونه چه په تاریخی لحاظ یو له بل سره هیڅ ارتباط و نه لري او دیوې ژبلمې د مختلفو معناوو د لیږلو الی په نتیجه کی منځ ته نه وي را غلی او هر لغت یې ځان ته بیل بیل تاریخی سیر و لري نو دغو لغتو نو ته واقعی امونیمونه و یل کیدای شی. ۲) هغه یو ډول ږغیز لغتونه چه معناوي یې اوس یوه له بلی څخه لیری شکاري خو په تاریخی او اتیمولوژیکی لحاظ یو له بل سره داسی ارتباط ولری چه دیوه لغت د بیلو بیلو معناوو د بیلتون په نتیجه کی منځ ته راغلی وي واقعی امونیمونه نه دي بلکه دغسی پیښی تیه پلیسیمسی ویل کیږی (۱) .

د عمومی تیوریتیکی پلان په رنا کی د پروفیسر یو . س . ماسلف نظر د تائید وړ دی . دده په عقیده ټول هغه شکلونه (د لغتونو ، مورفیمونو او تزکیبونو په سویه) چه تلفظ یې یو ډول او معناوي یې سره بیلی وی امونیمونه بلل کیدای شی (۲) . په دې تعریف کی دا په نظر کی نه نیول کیږي چه دا یو ډول ږغیز لغتونه څنګه منځ ته

۱. و. ي . ابایف . په قاموسونو کی دامونیمونو ځیټول . د ژبپوهنی مسایل ۱۹۵۷ ، ۳ مخ .

۲. یو . س . ماسلف . د ژبی د تیوری او تاریخ د مسایلو مجموعه . ل ، ۱۹۶۳ ، ۱۹۸ مخ .

راغلی ـ د تاریخی تکامل پر اساس د یوې کلمې د بېلو بېلو معناوو د لیږې والی په نتیجه کې متن ته راغلی او که په ایتمولوژیکی لحاظ هر یو بېل تاریخی سیرلري .

د ژبې د اوسنی حالت په څېړنه کې زمونږ د پاره دومره کافی ده چه هغه لغتونه اومونیمونه (متشابه) وګڼو چه تلفظ یې یو ډول او معناوي یې سره بېلوي. داچه دغه لغتونه په پخوانیو وختونو کې څنګه وو د ژبې د اوسنی حالت د څېړنې د پاره کوم مهم رول نه لري ، د مثال په ډول په اوسنۍ پښتو ژبه کې د کوټه (باطل)، کوټه (خونه) او تور (د سپین ضد) ، تور (تهمت) اومونیمونه دي . ځکه چه تلفظ یې یوډول او معناوي یې سره بېلي دي . داچه په پخوانیو زمانو کې کوټه(خونه)، کوټه (باطل) او یا تور (د سپین ضد)ـ تور (تهمت) دیوه لغت بېلی معناوي او یا مستقلی کلمی وې د ژبې د اوسنی حالت په څېړنو کې دا مونیمونو د تعریف په برخه کې کوم تغییر نه شی راوستلای . ځکه که چېرې دا ایتمولوژیکی څېړنو په نتیجه کې ثابته هم شي چه کوټه(خونه) ، کوټه (باطل) د یوې ریښې څخه متن ته راغلی دي بیا هم دغه دوې کلمې اومونیمونه دي . ځکه چه اوس یې پرغیزه بنه یوډول او معناوي یې سره بېلی دي .

دهمدې څېړنو په نتیجه کې ویلای شو چه د اوسنۍ پښتو ژبې په قاموس کې دغه واقعیت منعکس کول

ضرو ري ګټل کيږي . او هغه يو ډول ږغيز لغتونه چه معناوي يې سره ببلوي بايد په قاموسونو کې د امونيمونو په شکل منعکس شي. قاموس ليکونکي بايد په دې پسې و نه ګرځي چه دغه يو ډول ږغيز لغتونه د ربنو په لحاظ ارتباط سره لري او که يه .

د پښتوژبې په هغو قاموسونو کې چه تر اوسه په افغانستان کې ليکل شوي، دې مسألې ته پوره توجه نه ده شوې . په پښتو قاموس (پښتو-دري قاموس) کې حتی د دې مسألې يادونه هم نه ده شوې .په نورو ډيرو قاموسونو کې يوازې د (رسوز او اشارات) ترعنوان لاندې دوه سره ليکل شوي دي چه :

د اګل (*) چه د لغت په سر کې ايښوول شوی دی د مستقل لغت علامه او نښه ده. د دې علت يه دا وي چه تر اوسه پورې په پښتوژبپوهنه کې د امونيمونو موضوع په خاص ډول نه ده څېړل شوې . سره له دې هم په پښتو قاموس کې ځينې امونيمونه د مستقلو کلمو په حيث راوړل شوې دي که څه هم د کومې علامې په واسطه نه دي ښوول شوي لکه :

و ږی (لکه دغنمو)
و ږی (د ما ږه ضد)
کوټه (خونه)
کوټه (با طل)

کوږ (یوډول حیوان)
کوږ (دشم ضد) اوداسی نور ....

مګرسره له دې هم په پښتو قاموس کې کله کله داسی شوي دي چه په یوه قاموسی مقاله کې تر یوې کلمې لاندې دمعناوو په لړ کې مستقلې کلمې راوړل شوي دي لکه : چور: ۱) تاخت وتاراج ، ۲) پودر ، ۳) ریزمریز ، ۴) بالکل ، ۵) سوراخیکه به ذریعهٔ جریان آب در بند آب و پلوان پیدا میشود ، ۶) قول کوه ، ۷) سګ تیزیکه شبان در وقت ضرورت گوسفند بان ذبح می کند . (۱)

کله چه سړی دغې قاموسی مقالې ته ځیر شي نو داسی څرګندیږي چه تر یوې کلمې لاندې دمعناوو په لړ کې بیلې مستقلې کلمې سره راټولې کړي دي چه د معناوو تر منځ هیڅ دول ارتباط نه لیدل کیږي . او هغه مستقلې کلمې چه په همدې قاموسی مقالې کې یې امونیمونه بللای شو په دې دول دي :

۱ ـ چور ـ تاخت وتاراج .
۲ ـ چور ـ پودر ، ریزمریز .
۳ ـ چور ـ بالکل .
۴ ـ چور ـ سګ تیزیکه شبان در وقت ضرورت گوسفند بان ذبح میکند .

---

۱ . و ګ . پښتو قاموس ـ پښتو ټولنه ـ ۱۳۳۰ کال .

۵ - چور - قول کوه.

۶ - چور - سوراخیکه بهذریعهٔ جریان آب در بند آب و پلوان پیدا می شود .

همدارنگه په نومورې قاموس کې دځل (وار)، ځل (دځلا په معنا) دیوې کلمې په حیث په یوې قاموسي مقاله کې راوړل شوې دي، سره له دې چه د معنا و و په متن کې يې هیڅ دول ارتباط نه لیدل کیږي او واقعي امونیمونه دي .

کله کله د عربي کلمو مغفل کول هم په پښتو ژبه کې د امونیمو نو د پیدا یښت سبب ګرځي . د پښتو قاموس لیکونکو کوښښ کړی دی چه په قاموس کې د عربي کلمو مغفن شکل و لیکي لکه : رو (روح) ، وسه (وسعه) او داسي نوري . د پښتو قاموس لیکونکو د غښتي عربي مغفلې کلمې او پښتو کلمې په یوه قاموسي مقاله کې راوړي دي او معناووته يې پوره پاملرنه نه ده کړې لکه :

«رو : ۱) آهسته ، ۲) روح ، ۳) المونیم» .

«وسه : ۱) وسعه ، ۲) باران» .

همدارنګه په پښتو قاموس کې کوټ (کلا) - کوټ (بالاپوښ) چه هیڅ دول ارتباط نه سره لري دیوې کلمې د معناوو په حیث راوړي دي .

ددې پورتنیو څېړنو او مثالونو څخه دا سې څرګنديږي چه د پښتو قاموس لیکونکو دا مو نیمونو په تا کلو او په قاموس کې د هغوی د ټبټولو په برخه کې پوره پاملرنه نه ده کړې . نوځکه يې ډېلی ډېلی کلمې ديوې کلمې د معناوو په لړ کې په يوه قاموسي مقاله کې سره ځای کړي دي .

مګر اسلانف بيا په خپل قاموس (پښتو روسي قاموس) کې دا مو نیمونو مسألې ته پوره توجه کړې ده . څرنګه چه د شوروي اتحاد په ژ ېپوهنه کې ددې مسألې ډېل ډېل اړخونه څېړل شوي دي نو اسلانف هم د اوسنۍ ژ ېپوهنې په رڼا کې هغه لغتونه چه تلفظ يې يوډول او معنا وي يې ډېلی وي دا مو نیمونو په نامه پېژنې او په همدې اساس دا ډول کلمې د مستقلو کلمو په حيث په ډېلو ډېلو قاموسي مقالو کې ټبټوې او داعدادو په وسيله يې له نورو عادي کلمو څخه ډېلوي لکه :

۱ - تور - تهمت

۲ - تور - دسپين ضد .

۳ - تور - جال .

اسلانف په خپل قاموس کې سربېره پرا مو نیمونو ا مو ګرا فونه (۱) هم د اعدادو په وسيله ښوولی دي لکه :

---

۱ . ا مو ګرافونه هغو کلمو ته وايي چه په پښتو ليک دود کې يوډول ليکل کيږي خو تلفظ او معنا وي يې فرق سره ولري .

۱ ـ تلل ـ دتګ په معنا .

۲ ـ تلل ـ دو زن کولو په معنا .

نګرداهم باید وویل شی چه په دې قاموس کی خینی داسی کلمې دا مو ګرافونو په حیث راوړل شوي دي چه واقعی امو ګرافونه نه دي اود لیکلو په لحاظ فرق سره لری لکه :

۱ ـ خولی .

۲ ـ خواسې .

یا

۱ ـ کلی .

۲ ـ کلی . اوداسی نور ....

دلغتو نو د تلفظ افاوه

د پښتو ژبې فونيتيکي خصوصيات د همدې لوسنې ليک په واسطه په واقعي بڼه نه شي څرګندېداى. د پښتو ژبې او ليک ترمنځ ستره فاصله ليدل کيږي . دغه د پښتو ژبې د ږغونو او ليک ترمنځ بيلتون د پښتو قاموس ليکونکو نکو درک کړى دى . پښتو قاموس ليکونکو ګوښښ کړى دى چه په يوه يا بل ډول سره د پښتو لغتونو تلفظ په قاموسونو کې وښيى .

محمد گل موسند په خپل قاموس (پښتو سيند - ۱۳۱۶) کې د کلمو د تلفظ دافا دې د پاره د مخففو نو داسې يو سيستم غوره کړى دى :

از انګه ګول - (مف ، مف ، مم ، سا ، حرمخ ، سا ، مف ، مض ، سا) .

بيرته اخيستل - (مکث ، سا ، پچ ، سا ، مف ، سا ، مم ، مکث ، سامع ، سا ، خرمخ ، سا) .

او داسې نور ....

مګر د پښتو قاموس (پښتو - دري - ۱۳۳۰) ليکونکي د پښتو سيند مرکب مخففونه لږ څه ساده کړي دي . په دې قاموس کې د کلمو تلفظ د داسې بسيطو تورو په واسطه

ښوول کیږی چه هر توری یې دهغو حرکاتو نماینده گی کوي چه اصلاً په عربی ژبه کی معمول دي لکه :

لخول (زفزس)
شکول (سززس)
کور (ضمچس)
لور (ضمعس)
شیدې (کمعکمچ)
او داسی نور....

دغه ډول دتلفظ دافادې سیستمونه د یوې خواڅخه لوستونکود پاره مشکل او د بلې خواد کلمو تلفظ نه افاده کوي ، بلکه د کلمو دتورو حرکتونه ښیی . په همدې اساس دغه ډول سیستمونه د کلمود فونیتیکی ترکیب سره پوره مطابقت نه لري.

د پښتو په اوسنی لیک کی کی هغه کلمې چه په زور (ə) او زور کی (ə) ختمیږي دوا ړه و او لو نه دیوه توري (o) پواسطه خرگندیږي .او سربیره پردې په پښتو قاموس کی دغه ډول واولو نه دسکون په شکل ښوول شوي دي لکه:

زړه (سززس).
زړه (فففس) او داسی نور...

څرنکه چه د يوې خواد پښتو ژبې د ږغونواو ليکنې تر منځ توپير موجود دی او د بلې خوادغه ډول د تلفظ د افادې سيستمونه چه په افغانستان کې د پښتوژبې په قاموسونو کې مروج دي د کلمې پوره اوسم تلفظ نه شی افاده کولای. نويوازنی سمه لاربه داوي چه په پښتوقاموسونو کې د کلمو تلفظ په لاتينی تورو وليکل شی. دلاتينی تورو په مرسته کولای شوچه د پښتو کلموسم تلفظ افاده کړو.

همداوجه ده چه په هغو پښتو قاموسونو کې چه په شوروي اتحاد کې خپاره شوي دي لکه د پ.ب. زودين پښتو-روسی قاموس (۱۹۵۰)، ك.ا. ليبيديف پښتو-روسی قاموس (۱۹۶۲)، او م.گ. اسلانف پښتو-روسی قاموس (۱۹۶۶) کې د پښتو کلمو تلفظ د روسی الفباء په تورو ليکل شوی دی.

د پښتوژبې کوم ږغونه چه د روسی الفباء د تورو په واسطه نه شی افاده کيدای نو د روسی ژبې د هغوتورو پر سريا لاندی ټکی ورکول کيږي، کوم چه د مخرج په لحاظ د پښتو ژبې د ږغونو سره نږدې ږغونه افاده کوي.

سره له دې چه د اسلانف قاموس په پښتو قاموس ليکنه کې تر ټولو پښتو قاموسونو نه او جامع دی خو بيا هم د پښتو کلمو د تلفظ په برخه کې ځينی نيمګړتياوي لري لکه:

د اسلاف په قاموس کې: سم تلفظ يې.

تمبل- tambul tambal

ړا ړې

چيم چې

او داسې نور....

دخج ښوونه :

خج په بېلو بېلوژبو کې د موقعيت په لحاظ تو پيرلري. د ځينو ژبو په کلمو کې معيين ځای لري او په ځينوژبو کې بيا متحرک وی. په چيکی او سلواکی ژبو کې خج د کلمو پر لومړي سيلاب راځی. په پولينډي ژبه کې د کلمې د پای له خوا پردو هم سيلاب باندي خج واقع کيږي. دروسی ژبې په شان په پښتوژبه کې د کلمو خج کوم معيين ځای نه لري. په ځينو کلمو کې پسر لومړي سيلاب په ځينو کې پرمنځنی او په ځينو کې پرورو ستی سيلاب خج راځی لکه: وسپنه (خج پر لومړي سيلاب)، لوړوالی (خج پرمنځنی سيلاب)، پرون (خج پرورو ستی سيلاب).

په همدې اساس ويلای شو چه د پښتو کلمود صحيح لوستلو د پاره به د اښه وي چه په پښتو قاموسونو کې د کلمود خج ځايونه وښوول شی. ځکه دخج ځای د بدلون په اساس د ډيرو کلمو په لغوي يا گرامري معناوو کې تغييرپيښيږي چه ځينې مثالونه به يې دلته راوړل شی.

د لغوي معنا بدلون:

غوټه (خج پر لومړي سيلاب) گنډه .

غوټه (خج پرورو ستی سیلاب) غوپه، په او بو کی
ځان ډوبول.
ښکاري (خج پرلوړي سیلاب) څرګندیږي.
ښکاري (خج پرورو ستی سیلاب) ښکار کوونکی.
واړه (خج پرلوړي سیلاب) قول
واړه (خج پرورو ستی سیلاب) کوچنیان.
تېر (خج پرلوړي سیلاب) ماضی.
تېره (خج پرورو ستی سیلاب) د پخ ضد.
جوړه (خج پرلوړي سیلاب) سوله.
جوړه (خج پرورو ستی سیلاب) جفت.
بوره (خج پرلوړي سیلاب) هغه ښځه چه زوی یې له لاسه
ورکړی وی.
بوره (خج پرورو ستی سیلاب) چینی (خوړه)
دګرامري معنا بدلون:
ډوتل (خج برورو ستی سیلاب) د جمعې استمراري ماضی فعل.
ډوتل (خج پرلوړي سیلاب) د جمعې مطلق ماضی فعل.
پوړي وتل (خج پرورو ستی سیلاب) د جمعې استمراری
ماضی فعل.
پوړي وتل (خج پرلوړي سیلاب) د جمعې مطلق ماضی فعل.
پرې ایسته (خج پرورو ستی سیلاب) استمراري ماضی فعل.

پرې ایسته (خج پرلومړي سیلاب) مطلق ماضی فعل .
تړه (خج پرلومړي سیلاب) اسم (یوه پلنه ډبره ، کلپه لار)
تړه (خج پرورو ستی سیلاب) استمراري امر .
ګټه (خج پرلومړي سیلاب) اسم (فایده) .
ګټه (خج پرورو ستی سیلاب) استمراري امر .
اوداسی نور .....

څرنګه چه په پښتو ژبه کی دخج ځای متحرك دی نو په پښتو قاموسونو کی د کلمو دخج ځای ښوول یو ضروري کار دی. دا کار دیوې خواد کلمو په سمولوستلو کی زموږ سره مرسته کوي او دبلی خوا د کلمو د معیاري تلفظ د پاره هم بی ګټی نه دی. خو سره له دې هم د پښتو قاموس لیکونکو دې موضوع ته پوره پاملرنه نه ده کړې او بې له څو کلمونه چه د خج ځای یونه یې ښوول شوي دي نوري ټولی کلمې بې د خج ځای له ښوولو ثبت کړي دي. خو اسلانف په خپل پښتو-روسی قاموس کی دهری کلمې دخج ځای ښوولی دی .

د لغتونو گرامری خصوصیتونه

قاموس د لغتونو یوه ساده مجموعه نه ده بلکه سر بیره پردې چه د یوې ژبې لغتونه را غونډوي او لوستونکوته یې د یوې مجموعې په توګه وړاندې کوي د دې په څنګ کې د لغتونو بېل بېل اړخونه او ځینې اساسي او لومړنۍ خصوصیتونه هم څرګندوي، ترڅو لوستونکی د یازده کوونکی د دغو لغتونو په شاوخوا کې لومړنۍ معلومات او پوهه لاس ته راوړي. یوه له دغو مسألو څخه چه اوس یې دژبپوهانو زیاته پاملرنه ځانته راګرځولې او ننني قاموس لیکنه یې باید حل کړي هغه داده چه ترممکنه حده پورې باید په قاموسونو کې د لغتونو ګرامري خصوصیتونه او ګرامري کټګوریۍ وښوول شي. خصوصاً په دوه ژبیزه قاموس کې د لغتونو د ګرامري خصوصیتونو او ګرامري کټګوریوښوول هم د تیوري او هم په عملي لحاظ ډیر ګټور کار دی. په دوه ژبیزو قاموسونو کې د دغې مسألې صحیح حل دیوې خوا د دواړو ژبو د ګرامري سیستمونو په مقایسه کې، او د بلې خوا د کلمو د سم استعمال په برخه کې د لوستونکو سره پوره مرسته کولای شي. ځکه هره ژبه ځانته خاص ګرامري قواعد، دافادي مشخص سیستم او د کلمو دیوځای کېدو بېل بېل پرنسیپونه لري.

داکادیمیک ل.و. شپرپه دتیوریتیکی تحلیل په رنا کی ویلای شوچه تر کومی اندازی پوری چه په دوه ژبیزه قاموس کی د کلمو دلغوي معناوو دخصوصیتونو څرګندول امکان لري په همدې اندازه هم باید د کلمو دګرامري معناوو خصوصیتونه وښوول شی (۱)

خصوصاً ددې مسألی ارزښت به دوه ژبیز قاموس کی هغه وخت ښه څرګندیږي چه دوې داسی ژبی سره مقایسه کړو چه دګرامري سیستمونو له پلوه سره لیري وی (۲) .

په دې برخه کی به موږ په پښتو قاموسونو (پښتو قاموس، داسلا نف قاموس) کی د کلمو دګرامري خصوصیتونو پردغو مسألو باندې وږغیږو :

الف) د پښتو ژبی د کلام د اجزاو وښوول ، ب) د کلام د اجزاوو دګرامري خصوصیتونو څرګندول ،

---

۱. و ګ. ل .و. شپرپه. د سیتودولوژی له نظره ګرامر او دلغتونو سره د هغه متقابل اړیکی.... په منځنیو ښوونځیو کی دخارجی ژبوتدریس م،ل،۱۹۴۷ .

۲ . و ګ. ک.پ. مایتینسکیه . ددوو ژبیزو قاموسونو به جوړولو کی دژبو دګرامري جوړښت د بیلوالی ارزښت. قاموس لیکنه او لهجې پیژندنه . د لیکنو مجموعه، د علومو دادکاډیمی خپرونه ، م ، ۱۹۵۳ .

ج) د کلمو دهغو برخو څېړنه چه د مارفولوژۍ له نظره بېلېدونکی دي .

الف) د پښتو ژبې د کلام اجزاء :

که څه هم په پښتو ژبه کې د تحلیلي ژبو په شان پرېدلوګ د کلمو دنحوي ارتباط د څرګندولو دپاره استعمالیږي ، خو د مارفولوژۍ له نظره د اوپښتو نکو ژبو ګروپ ته منسوبه ده .

ځکه چه د کلام د اجزاوو ګرامري معنا اکثراً د کلمود وروستیو برخو (پای) د تغییر له پلوه څرګندیږي . د پښتو ګرامر پوهانو له نظره د پښتو ژبې د کلام اجزادادي :

اسم ، صفت ، قید ، ضمیر ، فعل ، عدد ، دادات توري ، دنداتوري ، د ربط توري ، پرېدلوګ ، او پوسلی لوګ (۱) .

هر یوله دغو څخه مشخصې ګرامري علامې لري . خو دا هم باید وویل شی چه د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو ترمنځ

---

۱ . یادونه : تر اوسه پورې د پښتو ژبې د کلام د اجزاوو دوېش په برخه کې کوم بشپړ او یا منل شوی اثر نه شته . نو ځکه دا لازمه ګڼل کیږي چه په دې برخه کې پوره څېړنه وشی .

کوم مطلق سرحد نشته . او کله کله د کلام یو جز هم د صفت او هم د اسم او یا قید په شکل استعمالیږي .

په پښتو قاموس (پښتو ـ دری ، کابل ۱۳۳۰) کې د ځینو علامو په واسطه د کلام اجزا ښوول شوی دی. مګر دغه علامې تر ډیره حده د کلام د اجزاو و سره پوره مطابقت نه لري.

په پښتو ژبه کې قید د کلام دیوه جز په حیث په عمومي ډول دا لاندې خصوصیتونه لري :

۱) د جنس تابع نه وي (د مذکر او مؤنث د پاره یو ډول استعمالیږي) ، ۲) د عدد تابع نه وي (د مفرد او جمعې د پاره یو ډول استعمالیږي)، ۳) د حالت تابع نه وي (د لته ځینې استثنا ات شته)، ۴) دیوه عمل یا کیفیت د څرنګوالی پر علایمو دلالت کوي .

په پښتو قاموس کې قید کله د صفت او کله د اسم په نامه ثبت شوی او کله کله بیا بیخي هیڅ ډول علامه نه ده ورته لیکل شوي : ۱) هغه کلمې چه د کلام د اجزاو و دویش له پلوه د قید په ګروپ پورې اړه لري د دې قاموس لیکونکو هغه یوازې د صفت په شکل راوړي دي لکه: نن، نیږدې ، ناڅاپه ، ژر ، ژرتر ژره ، د لته ، لیرې ، غوندې ، ښایي ، تل ، ورو ورو ، ډیر ، لږ ، خورا ، لاندې ، په څیر ، په شان او داسې نور ... (۱).

---

۱. په د غو قیدو نو کې ډیر ، لږ (په ځینو لهجو کې)، ژر ، متحرک سر حد و نه لري .

۲) هغه قیدونه چه په همدی قاموس کی ذمذ کړو نومونو په شکل ثبت شوی دي لکه : پرون، اوس، سبا ، زښت ، خورا ، ډیر ، چیرته .

۳) هغه قیدونه چه هیڅ ډول ګرامری علامې نه دی ورته لیکل شوي ، لکه :

هلته ، لکه ، پخوا ، داسی ، دغسی ، بیخی ...

همدارنګه په پښتو قاموس کی ځینی صفتونه هم دغلطی ګرامري غلامې په واسطه ښوول شوي دی. په دې قاموس کی ډیری داسی کلمې را غلی چه اصلا صفتونه دي خو دلیکونکو له خوا مذکریا مؤنث نومونه ګڼل شوي دي لکه :

وږی، وچ، سور ، سپک ، سپین ، زړه ور ، ړوند ، رونړ، ړنده، توره، وچه، خوږه او داسی نور ...

په پښتو قاموس کی دضمیرونو په ښوولو کی د کوم سیستما تیک پرنسیپ مراعات نه دی شوی .

ځینوته یې ګرامري علامې لیکل شوي او ځینو ته بیا نه دي لیکلی شوي لکه :

زه، زما، دده، ددوی، هغه، څوك، هیڅوك، چه کومی ګرامري علامې نه دي ورته لیکل شوي. همدارنګه په پښتو قاموس کی کومکی توري لکه: له (پریدلوګ) ـ څخه، ځنی (بو سلی لوګ) هو، هو کی (داداتوري) هم (درېطتوری) بې له ګرامري علامو څخه ثبت شوي دي .

سربيره پردې خو (داد ات توری) ـ بلکه ، چه ، مګر، خو (در بطتوري) اصلا په قاموس کې نه دي راوړل شوي .

په پښتو قاموس کې د مصدر و نو د ښو و لو دپاره ګرامري علامې ليکلې شوي دي مګر دلازمي او متعدي فعلونو ذکر يې نه شته .

ب) د کلام داجزاوو ګرامري خصوصيتونه:

دو همه مهمه مساله په قاموسونو کې د کلام داجزاوو د معناوو بيلول دي. څرنګه چه په پښتو ژبه کې د کلام داجزاوو معنوي سرحدونه متحرک دي نود قاموس ليکنې د علم له نظره دا لازمه ګڼل کيږي چه په قاموسونو کې د کلام داجزاووو ظيفه او دد وی د و اقعی معنا وو کلاسيفيکيشن وښو ول شی .

صفت په پښتوژبه کې په عمومي ډول دغه خصوصيتونه لري: ۱) د جنس تابع دی (يعنی که موصوف مذکروي صفت يې هم د مذکر او که موصوف يې مؤنث وي نو صفت يې هم د مؤنث شکل غوره کوی)، ۲) صفت د عدد تابع دی (يعنی که موصوف مفردوي نو صفت د مفرد په شکل او که موصوف جمعه وي نو صفت هم و رسره د جمعې په شکل استعمالیږی)، ۳) د حالت له مخه تغييږ منونکی دی (هم اصلی حالت لری او هم مغييره حالت). مګر د صفتونو په منځ کې ځينې د اسی استثنايی ګروپونه هم شته چه خاصې توضيح ته ضرورت لري :

۱ـ نه بدلیدونکی صفتونه. داهغه ډول صفتونه دي چه دمذکراو مؤنث دمفرد او جمعې په اصلی حالت او بدلی حالت کی نه بدلیږي او دټولو دپاره په یوه بڼه استعمالیږي لکه:

لاسی ابی، ښایسته، او داسی نور (۱).

۲ ـ هغه صفتونه چه دمذکر دمفرد او دمذکر دجمعې دپاره یو ډول استعمالیږي او بدلون نه مومی لکه: تیره (مذکر مفرد او جمع) بیده (مذکر مفرد او جمع) او داسی نور ...

۳ ـ هغه صفتونه چه کله کله دصفت او کله کله دقید وظیفه اجرا کوي لکه:

ښه، ورو، ښایسته او داسی نور .... د غه کلمې دکلام په بیلو اجزاوو پورې اړه لري او په متن کی مختلفی معناوي څرګندوي.

۴ـ یه پښتو کی ځینی داسی کلمې شته چه هم د صفت او هم داسم وظیفې اجرا کوي

۱.(ښایسته) دمفرد مؤنث او دجمعې دمؤنث په او بدلی حالت کی بدلون مومی.

لکه: مشر ، رونډ ، سپور ، سپین ، لوی ، زوړ اوداسی نور ... (۱)

دپښتو قاموس لیکو نکو دپورتنیو کلمو گرامري خصوصیتو توته پاملرنه نه‌ده کړې اونه‌یې په‌خپل قاموس کې دغه‌خاص گروپونه دکومو خاصو گرامري علامو په واسطه ښوولی دي .

یوه بله موضوع چه دکلام داجزا وو د گرامري خصوصیتونو سره‌ارتباط لري‌اوپه قاموس کې یې څرگندول ضروری ښکاري ، هغه‌داده چه‌په‌پښتوژبه کې ځینی‌داسی کلمې شته چه یوازي دجمعې په شکل استعمالیږي لکه : اوړه ، ورېښم ، واښه ، غنم ، اوبه ، شیدې ، وړی ، وریجی اوداسی نور ...

---

۱ . دصفتونو پور تنی کلاسیفیکیشن پوره اوبشپړ نه دی . دلته زما مقصد دا نه‌دی چه‌د پښتو ژبې دصفتونو ټول عمومی اواستثنائی گروپونه او حالتونه وښیم ځکه دا بیا ببله‌څېړنه اوبېل بحث‌غواړي . په دې‌برخه کې زه یوازي دومره یادونه کوم چه‌په‌پښتو ژبه‌کې دکلام د اجراوو سرحدونه متحرك دي اوکېدای شي چه‌د کلام یوجز څوسختلفی گرامري معناوي ولري ، نوځکه یې په قاموسو کې دسختلفو معنا وو ښوول اود کتگو ریو بېلول ضروري ښکاري .

همدا رنګه ځینې کلمې بیا د مفرد او جمعې دپاره یو ډول استعما لیږي لکه :

هګۍ ، خولۍ ، چوکۍ ، او داسې نور ... چه په قاموس کې باید ددغه ډول کلموخصوصیتونه او ګرامري معناوي دخاصو ګرامري علامو په واسطه وښول شي . خو په پښتو قاموس کې د کلمو دغه ډول ګرامري خصوصیتونه هم نه‌دي ښوول شوي . مثلا ، د(هګۍ) کلمې‌ته یوازي دومره لیکل شوي‌دي چه‌مؤنثه کلمه‌ده . (غنم) ته لیکل شوي چه مذکر او بس . مګر اوړه ، و ربښم ، وابنه ، اوبه، شیدې ، وړۍ ، وریجې ـ کلموته دجمعې ګرامري علامې لیکل شوي‌دي ، خودلته یې بیامذکر او مؤنث یا دونه نه‌ده شوې .

ج) په قاموس کې د کلمود هغو برخو راوړل چه د مارفو لوژی‌له نظره بېلېږ ونکی دی :

په قاموس کې باید د کلمو هغه برخې چه د ژبې د ویو نکو له نظره مارفو لوژیکی بېلوالی لري دخاصو ګرامري علامو په واسه وښول شي (۱) . اوس به‌وګورو

---

۱ . ل . و شپر به . د ژبپوهنې او فونیم پوهنې په برخه کې دغوره آثارو مجموعه، ۱ ، تولک ، ل . ، ۱۹۵۸ ، ۳۶ مخ .

چه په پښتو قاموس کې مختاړی (پریفکسونه) ، وروستاړي (سوفکسونه) او بنسټ (هغه برخه ده چه دیوه فعل بیل بیل ګرامري شکلونه څخې جوړیږي) په څه ډول سره راوړل شوي دي . کله چه دقاموس پاڼې راواړو نوو ینو چه دغه مسأله هم په نیمګړي توګه پکښې راغلې ده . دغه مختاړي نه دي راوړل شوي ، لکه : کښې ، پورې ، ننه ، پرې ، و ـ د (و ـ د مطلق فعل مختاړی) .

همدارنګه په نومورې قاموس کې دنومونو او صفتونو وروستاړي (سوفسکونه) په غیر سیستماتیک ډول سره ثبت شوي دي . په همدې قاموس کې دنو مونو وروستاړي لکه : تو ب ، تیا ، وال ، والا ، تو ن ـ د صفتو نو وروستاړی ، لکه : من ، یالی راوړل شوي دي مګر دبلی خوا بیا دنومونو دغه وروستاړی (سوفسکونه) په قاموس کې نه دي راغلی ، لکه : ځی (ښوونځی ...)

وان (موټروان ...)

والی (کلکوالی ، تودوالی ...)

همدارنګه دصفتونو ځینې وروستاړي هم نه دي ثبت شوي ، لکه :

جن (غمجن ...)

ور (زړه ور ...)

په پښتو قاموس کې د (ـتوب) او (ـتيا) ورو ستاړي سم نه دي توضيح شوي. دوی ليکلی چه دغه ورو ستاړي د مجرد صفتونه ورو ستاړي دي. حال داچه دغه ورو ستاړي د مجرد ونو سونو په پای کې راځی لکه :

سړيتوب (سړی ـ توب)
غړيتوب (غړی ـ توب)
زلميتوب (زلمی ـ توب)
روغتيا (روغ ـ تيا)
لوړتيا (لوړ ـ تيا)
ژورتيا (ژور ـ تيا)
او داسی نور ...

په پښتو قاموس کې ورو سته له مصدر و نو څخه دفعل څينی گرامري شکلو نه ښوول کيږی . که چيری دفعل گرامري شکلو نه له نو سو ړو مصدر و نو څخه (ددوي په عقيده) نه شی جوړيداي ، نو ليکو نکی دانالوژی (قياس) له مخه له مخانه مصدرونه ورته جوړوي او دغير مستعمل نومورباندي ايږدي ، لکه :

«کتل: (فزس) مص ـ ديدن، نگريستن ، انتظار . (حا) افعال ديگراز مصدر غير مستعمل گورل .

حا ـ گوري ما ـ وگوت
اـوبه گوري امر ـ وگوره .»

مګرخبره داده چه په پښتو ژبه کې د فعل ګرامري شکلونه د مصدر څخه نه جوړيږي. ټول فعلي شکلونه د حال د ښښت او د ماضي د ښښت څخه جوړيږي. په ژيا تر و افعالو کې د ماضي ښښت مساوي دی له مصدر سره منفي مصدري علامې:

د ماضي ښښت	مصدر	مصدر علامې
په کتل کې: کت (Kat-)	«کتل (Katal)	-(əl)
په تلل کې: تل : (tl-)	«تلل (tləl)	-(el)

او داسې نور ...

مګر د حال د افعالو ښښتونه بيا مختلف وي. په (کتل) کې هغه ښښت چه د حال دزمانې ګرامري فعلي شکلونه څخې جوړيږي (ګور-) دی، او په (تلل) کې بيا (ځ) دی لکه: ګورم، ګورو، ګوري ... او ځم، ځو، ځي ...

همدا وجه ده چه زموږ زيا تره ګرامر پوهان ځينو مصدرونو ته باقاعده او ځينو ته بې قاعده مصدرونه وايي. ځکه دوی داسې فکر کوي چه ګرامري فعلي شکلونه له مصدرونو څخه جوړيږي: په دې برخه کې دوی دعربي تر تاثير لاندې راغلي دي.

ښه به داوي چه په قاموس کې ورو سته له مصدرونو څخه هغه ښښتونه وښيو ل شي، له کومو څخه چه د فعل مختلف ګرامري شکلونه جوړيږي.

د اسلانف په پښتو- روسي قاموس کې د کلام اجزأ په

سم ډول سره بیل او د ګرامري علامو په واسطه ښوول شوي دي . یوازي مفرد او مذکر او صفتونه ګرامري علامې نه دي لیکل شوي

د دې علت به هم ښایي دا وي چې لیکونکی اکثراً صفتونه د مفرد، مذکر او اصلي حالت په شکل راوړي دی . د پښتو قاموس په خلاف په دې قاموس کې د کلام دا جزا وو معناوي په ښه توګه سره بیلي شوي او تشریح شوي دي . خصوصاً کوښش شوی چې د کلام د هغو اجزاو و معناوي سره بیلي کړي ، کوم چې د معنوي سرحدونو له پلوه متحرک دي ، لکه :

ښه ۱. (د صفت په حیث) ښه اس ، ښه هلك ... ، ۲. (د اسم په حیث) د ښو ښه زیږي ، د بدو وا ښه ، د بدو سړو څخه د ښو هیله مه کوه ! ... ۳. (د قید په حیث) ډیر ښه ، خورا ښه ، ښه سوچ ... ، په ښه ډول ، په ښه شان ، ښه سی په یاد دي چې ... (۱) .

د اسلاف په قاموس کې هغه صفتونه چې د مذکر د مفرد او جمعي دپاره یو ډول استعمالیږي د خاصو ګرامري علامو په واسطه ښوول کیږي ، لکه : تیره ، ښه ...

خو ځینې صفتونه چې نه بدلیدونکي دي یعنې د مذکر ، مؤنث ، مفرد او جمعي په حال کې یو ډول استعمالیږي ، لکه : لاسی ، ابی ... د اسلاف په قاموس کې د کومو خاصو ګرامري علامو په واسطه نه دي ښوول شوي .

---

۱. د تفصیل دپاره وګورئ د اسلاف پښتو سروسی قاموس د (ښه) قاموسي مقاله .

ما لازمه ونه ګڼل چې ټوله قاموسي مقاله دلته راانقل کړم .

هغه کلمې چه په پښتو ژبه کې یوازې د جمعې په ډول استعمالیږي د اسلانف په قاموس کې د سمو گرامري علامو په واسطه ښوول شوي دي، لکه: غنم، وړی، او داسې نور...

همدارنگه د اسلانف په قاموس کې د کلمو هغه برخې چه د مارفولوژۍ له نظره بیلیدونکی دي (مخټاړي، وروستاړی، بنسټ) د گرامري علامو په واسطه ښوول گیږي.

د کلمو بنسټونه د الفباء په ترتیب پر خپل ځای په قاموس کې ثبت شوي دي. دغه کار لږ څه غیر موزون غوندې ښکاري. ځکه که چیرې څوک غواړي د کوم فعل بنسټ په قاموس کې ولټوي هغه ته باید د دې فعل بنسټ معلوم وي. که چیرې ور معلوم وي نو لټون لوته یې کوم ضرورت نه پیدا کیږي. او که چیرې نه وي ور معلوم نو بیا یې په قاموس کې د الفباء په ترتیب نه شي پیدا کولای. سمه به داوای چه د فعلونو بنسټونه یې د مصدرونو سره یوځای راوړي وای نه بیل بیل. مثلاً په به دا وای چه د (اغوندل ـ) (الوځ ـ) ، (بول ـ) بنسټونه نه یې د (اغوستل) ، (الوتل) او (بلل) د مصدرونو سره یوځای راوړی وای مګر په دې قاموس کې مصدرونه د الفباء په ترتیب په یوه ځای کې ، او د فعل بنسټونه یې د الفباء په ترتیب په بل ځای کې راوړل شوی دی. خو سره له دې بیا هم د اسلانف قاموس د کلمو د گرامري خصوصیتونو د څرګندولو له پلوه تر ټولو هغو پښتو قاموسونو غوره دی، کوم چه تر اوسه خپاره شوي او زمونږ لاس ته راغلي دي.

د کلمو معنوی سپړنه

په دووڅ بیزو قاموسونو کی د کلمو د تر جمې او معنوي سپړنی په برخه کی د مختلفو پرنسیپونو څخه کار اخیستل کیږي چه اساسی یې په دې ډول دي : ۱) تکی په تکی ترجمه . د یوې ژبې د کلمې په مرسته د کومی بلی ژبې دیوې کلمې ترجمه، ۲) دیوې ژبې دیوې کلمې ترجمه د بلی ژبې د څو مترادفو کلمو په کومک ، ۳) د تشریح او تعریف پر اساس د یوې کلمې د معنا څرګندول .

په پښتو قاموس (پښتو ـ دری) کی د پښتو ژبې ډېري کلمې په نیمګړې توګه معنا شوي او د ترجمې له مخه د پښتو کلمو معنوي اړخونه پوره نه شی څرګندېدای په همدې قاموسو کی ډېري داسی کلمی لیدل کیږي چه د ترجمی په برخه کی یې یوازي یوه کلمه د مترادفی کلمې په حیث راوړل شوې ده . د (کینل) کلمه یوازي په (کندن) سره ترجمه شوې ده .(کینل) او (کندن) د ځینو معناوو (لکه ، د څاه کینل ، د ځکی کیندل) له پلوه سره مترادفی دي . له بلی خوا د (کندن) کلمه ځینی نوري داسی معناوي لري چه (کینل) یې نه لري.

(کندن) (۱) د(شکول) او (کښل) په معنا هم استعمالیږي خو د (کښل) کلمه دغه معناوي نه لري . نو په دې اساس (د کندن) کلمه د یوې خوا د (کښل) سره د ځینو معنوي اړخونو له پلوه نږدې ده او د بلې خوا د (کندن) کلمه په ځینو نورو معناوو کې د پښتو ژبې دنورو کلمو لکه ـ شکول او کښل سره مشترک معنوي اړخونه لري. د دې مثال ځخه دې نتیجې ته رسیږو چه : کـه چیـري د دوو ژبو څو معنا ییزه کلمې د ځینو معناوو لـه پلـوه سره مترادف هم وي بیـا هـم د غـه کـلمـې پـه ځینو نورو معنوي اړخونو کې توپیر سره لري . په پښتـو قاموس کې د(بدلون) کلمه یوازې په (معاوضه) باندې ترجمه شوې ده .

که څه هم (بدلون) او (معاوضه) د ځینو معنا وو (د یو شی د بدلولو او عوضولو) له پلوه سره نږدې دي خو د (بدلون) کلمه په پښتو ژبه کې د تحول او تغییـر په معنا هم استعمالیږي . چه په دې معنوي برخه کې د (معاوضه) سره توپیر لري .

---

۱ ـ د کندن د کلمې د معناوو په برخه کې وګورې فارسی ـ روسی قاموس. مهتمم یو . ۱۰ . رو بینچیک. م.، ۱۹۷۰

د (ننوتل) کلمه په (داخل شدن) ترجمه شوې ده .
دغه دوې کلمې د ځینو معناوو (لکه ، کومې موضوع ته
ورداخلیدل ، په یو شی کې نفوذ کول ، په کوټه یا
کور کې ننوتل) له پلوه دوې مترادفې کلمې دي . که
څه هم دغه دواړې کلمې په معناوو کې ډېرې نږدې سره
ښکاري خو د استعمال له پلوه ددوی په منځ کې څه
توپیر لیدل کیږي . ویلای شو چه ـ احمد داخل کار شد
(یعنې احمد په کار شروع وکړه ـ یا احمد په کار کې
داخل شو) . دلته د (داخل کار شد) پرځای (ننوت) نه
استعمالیږي . همدا رنګه د (کښل) کلمه یوازې په
(کشیدن) ترجمه شوې ده . دغه دوې کلمې په ډېرو
معناوو کې سره نږدې ښکاري لکه : ۱) څکول، ۲) ایستل
(لکه د بوټو، کالو)، ۳) څکول (دسګرټو) ، ۴) ایستل (لکه
دغاښو ، دځانځه داو بو کښل) ، ۵) شړل، ۶) دکانال
یاولی کښل، ۷) بې کاره کول (څوك له کاره کښل)، ۸)
اچول (دکتوي څخه وریجې غوري ته وراچول) . سره له دې

چه (کښل) او (کشيدن) دې برو معنا وو او استعمال له پلوه سره نږدې دي بيا هم ددوی ترمنځ څه لږ توپير ليدل کيږي او هغه دا چه (کښل) د کتاب د ليکلو او خط ليکلو په معنا استعمالږي ، مګر (کشيدن) په دغو معنا وو کې د (کښل) سره فرق لري .

که هر څو سره ددوو ژبو څو معنا ييزي کلمې سره نږدې او مترادفې وي بيا هم هيڅکله ددوی ټول معنوي اړخونه او د استعمال ځايونه پوره مطابقت نه سره کوي. ددې اصلي علت دا دی چه د هر ژبې کلمې خاص کلتوری ، تاريخي او اجتماعي ، معنوی او تکاملي سير لري چه د کومې ټلې ژبې د کلمود کلتوري او تاريخي سير سره سر نه خوري. په دې برخه کې اکاديميک ل. و . شير به ليکي : .... په دوو ژبيزو قاموسونو کې يوه ستره او اصولي اشتباه له هغه تصور څخه منځ ته راغلی چه ددوو ژبو مفهومونه معادل ګڼل شوي دي(۱). د شبر به په اثارو کې (دقاموس ليکنې عمومي تيوری ، دروسي - فرانسوی قاموس مقدمه ....) ددوو ژبيزو قاموسونو دغه اشتباه په مدلل ډول ثابته شوی ده . دی ليکي چه : ((که چيرې ددوو ژبو سره نږدی کلمی

۱ل . و . شبر به . دقاموس ليکنې عمومي تيوري . د ژبپوهنې او فونيم پوهنې په برخه کې دغوره اثارو مجموعه . ل .، ۱۹۵۸ ، ۸۵ مخ .

دیوه یا بل معنوی اړخ له پلوه سره مترادفی وي بیا هم په ځینو نورو معنوی اړخو نو کی سره بیلیږی)) (۱) .

په همدی اساس په دوو ژبیزو قاموسونو کی د کلمو په ترجمه کی باید دیوې معادلی یا مترادفی کلمی په راوړلو سره اکتفا ونه شی . ځکه چه یوه څو معنا ییزه کلمه یوه یا له معنا وي لری چه دغه ټولی معنا وی یی دیوې مترادفی کلمی په راوړلو سره نه شی څرګندیدلای نو دیوه بنه دوه ژبیز قاموس اصلی او لومړنی وظیفه داده چه په یوه واضح او سیستماتیک ډول دد غسی کلمو معنوی اړخونه وسپړی .

کساریس د کلمو او مفاهیمو دارتباط په برخه کی لیکی چه : دیوه محدود (د مفاهیمو په تناسب) تعداد کلمو په واسطه دویش پراساس یو ستر تعداد مفاهیم څرګندیږی نو په همدی اساس قاموس لیکونکی ته ښایی چه دیوې کلمی معنا وی په متیودیک ډول ترکومه ځایه چه ممکنه وي پرګروپونو ووپیشی (۲) .

---

۱ . ل. و. شبربه . دروسی ـ فرانسوی قاموس مقدمه . م . ، ۱۹۳۹ .

۲ . کساریس . د اوسنی قاموس لیکنی مقدمه (روسی ترجمه) . م . ، ۱۹۵۸ ، ۷۰ مخ .

څرنګه چه په پښتو قاموس کی دغسی مسأ لوته پوره پاملرنه نه ده شوې نو اکثره پښتو کلمی په نیمګړي توګه معنا شوی دي . مثلاً ،(لخول) یوه څو معنا ییزه کلمه ده چه په پښتو ژبه کی دغه اصلی معناوي لري : ۱) بربنډ ول او کالی څینی کښل ، ۲) سپینه او په ډاګه ویل، ۳) توضیح کول . د (لخول) دغه معنا و ی پښتو قا موس نه دي را اخیستی بلکه یوازی په یوې مجازي معنا یی اکتفأ کړی ده . په پښتو قاموس کی د(لخول) کلمه داسی معنا شوې ده : « برهنه کردن و لخت کردن دزد ها . » دغه ترتیب هم تر ډیره حده سم او واضح نه ښکاری . همدا رنګه د(خړ) کلمی ته لیکی: خړ - (۱) خاکی (۲) خجل ..! . اول خودانه ده واضحه چه د (خاکی) څخه مقصد دخاورو څخه جوړشوی او که خاورو ته ورته دی.دوهم داچه (خړ) دخړ و اوبو ، او ریځی ، او غیر واضح (دوخت په باره کی) معناوی هم لری چه پښتو قاموس نه دي را اخیستی .

په پښتو قاموس کی څینی کلمی بی له ترجمی او بی له تشریحی مثالو نو څخه یوازی تعریف شوی دي . او دا تعریف کله کله دومره نا څرګندوي چه دلوستونکو د پاره دمعما حیثیت لري . مثلاً د (جوړیدو نکی) کلمه داسی

تعریف شوې ده : «جوړیدونکی ـ آب و جلاب و غیره ځه در شکم قرقر کند .»

بل ځای لیکی: «تخم ـ(۱) .... (۲) نژاد از تکم پښتون است . » په پښتو قاموس کی ځینی داسی نوري کلمی هم شته چه معنا وي یی څرګندي نه دي لکه: بلوره، بلوده، نخی ، تولیدل .... ددې ټولو خبرو څخه دې نتیجی ته رسیږو چه دیوې کلمی دمعنا وو په سپړنه کی دیوه یا بل پرنسیپ څخه په ځانګړي توګه استفاده کول کافی نه ګڼل کیږی . نوښه به دا وي چه د کلمو دمعنوی اړخونو دسمی سپړنی په غرض د درو واړو پر نسیپو نو څخه په مجموعی ډول کار واخیستل شی . ددې ډول روش په مرسته کیدای شی چه د کلمو معناوي څرګندي او داستعمال طرزیی واضح شی . بله مهمه موضوع چه د کلمو دمعنوي اړخونو دسپړنی سره ارتباط لري هغه په قاموسی مقاله کی د کلمو د معنا وو ترتیب دی . کساریس دعملی (امپریزم) او تاریخی میتودونو په برخه کی داسی لیکی چه: «موږ د کلمو دمعنا وو د ترتیب په برخه کی ددوو پرنسیپونو سره مخامخ یو چه هریوې ځان ته بیل اساسات لري. یو پرنسیپ عملی اړخونه په نظر کی نیسی او بل یې علمی سمون ته زیات ارزښت ورکوي»(۱) . مګر

---

۱. کساریس. داوسنی قاموس لیکنی مقدمه (روسی ترجمه). م . ، ۱۹۵۸ ، ۸۱ مخ .

د کساریس دغه قضاوت زموږ دپاره دقناعت وړنه دی .
ددغو دوو پرنسیپونو (عملی او تاریخی) په مقایسه کی زموږ
نظر دادی چه عملی (امپریزم) میتود هم په هغه اندازه یـو
واقعی او علمی میتود دی په کومه اندازه چه د کساریس د
پاره تاریخی میتود علمی ښکاری.

څرنگه چه دوه ژبیز قاموسونه اصلا د دې هدف د پاره
جوړیږي چه په لومړنی قدم کی د یوې ژبی د کلمو هغه
معناوي څرګندي کړي چه په اوسنی حالت کی ډیری
مستعملی وي .او کوم میتود چه د هغه په پیروی په قاموسی
مقاله کی اول د کلمو ډیری مستعملی معناوي اووروسته
بیا لږ مستعملی اوزړې معناوي لیکل کیږي عملی (امپریزم)
میتوددی . نو گومان نه کوم چه دژبپوهانو په منځ کی به د
عملی میتود د ترجیح په برخه کی کوم اختلاف نظر موجود
وی. نوسمه به داوي چه په دووژبیزو قاموسونو کی د تاریخی
میتود څخه پیروي ونه شی .دا ځکه چه د تاریخی میتود پر
اساس په قاموسی مقاله کی په ترتیب سره اول د کلمو ایتمو
لوژی ، بیا هغه معنا چه دغی ایتمولوژی ته نږدې وي، بیا
پخوانی غیر مستعمله معنا راوړل کیږي او د قاموسی مقالی
په پای کی هغه معنا راځی چه په اوسنی حالت کی ډیره مستعمله
او مروجه وي.

په پښتو قاموس کې په عمومي ډول اول د کلمو او سنۍ ډېري مستعملې معناوي اوورو سته بيا هغه معناوي راوړل کيږي چه لږ مستعملې او يا زړې وي . مګر د پښتو قاموس ليکونکو دغه سيستم ترپايه پوري نه دی ساتلی او ډېري داسې کلمې پکښې موندلای شو چه او سنۍ مروجې معناوي د قاموسي مقالې په پای کې راوړل شوی دي . په پښتو قاموس کې د (تاوان) د کلمې قاموسي مقاله په دې ډول ده: «تاوان - (۱) اتهام (۲) بار ګردن (۳) جرم، بدل و عوض مال تلف شده غير (۴) نقصان و خساره . شبه به د او ای چه د (تاوان) د کلمې معناوي په دې ترتيب سره راوړل شوي وای . تاوان-۱) نقصان ، خساره ، ۲) جرم، بدل و عوض مال تلف شده غير، ۳) بار ګردن، ۴) اتهام (که چيرې دغه معناولري) . همدارنګه په نورو قاموس کې د-بادام، چم، تکيه، تاپی درک .... د معنا و و ترتيب نه دی ساتل شوی .

د اسلانف (پښتو-روسی قاموس) د کلمود معنوي ارخونو د سپرنی ، د کلمو د معنا و و د ترتيب او د ترجمې د روش له پلوه ترټولو پښتو قاموسونو چه تر اوسه خپاره شوي او زموږ لاس ته راغلی يوغوره اثر دی .

خوسره له‌دی بیا هم‌ددې قاموس دځینو کلموترجمه‌د قناعت وړنه ښکاري ۰د(پرې ایستل)د کلمې د معناو و په‌لړکی ځینی داسی معناوي هم راوړل شوي دي چه‌د(پرې ایستل) د کلمې‌سره هیڅ ارتباط نه‌لري او هغه معناوی دادي : پرې ایستل -۱) غورځول،تر بیل ،۲)و یشتل ،۳)پرې ښودل ، طلاقول (لکه د ښځی)۰ په بل ځای کی(زنبیل)او(کچکول) ددوو مترادفو کلمو په‌حیث راوړل شوي . خو په‌پښتوژ به کی (زنبیل)او(کچکول)دوه بیل مفهومونه افاده کوی همدارنگه‌د اسلاف‌په قاموس کی‌د هرکاره،سړو بی،ړینتگی باورچی ځینی معناوي سمی‌نه‌ښکاري .

د ژبنیوځېړنو په‌لړکی سړی دې‌تکی‌ته‌رسیږی چه د یـوې ژبی کلمی چه و بلی ژبی تـه و ر نـو ز ی په معنا وو کی بی‌څه تغییرات پیښیږی او کله کله‌خپله پخوانی معنا له لاسه ورکوي او په یوه‌نوې‌معنا مروجه کیږی۰ اسلاف په‌خپل قاموس کی دغومعنوي تغییراتوته تردیره حده پاملرنه کړې ده .

مثلا ، په‌عربی‌ژبه‌کی (مکان)یوازی د(ځای) په معنا استعمالیږی . خو کله‌چه دغه کلمه‌په پښتوژبه‌کی مروجه شوه نویوه بله معنا یی هم پیدا کړه . چه اوس (مکان) په پښتو ژبه کی سربیره‌پر (ځای) د(بیت الخلا) په معنا

هم استعمالیږی ۰ اسلانف هم په خپل قاموس کی دغه دواړی معنا وی راوړی دي. که څه هم د (خطر) کلمه په عربی ژبه کی ډیری معنا وي لري ، خو اسلانف یو ازی هغه معنا وي را اخیستی چه په پښتو ژبه کی مروجی دي (لکه ، مخاطره ، خطر). خو کله کله بیاد اسلانف په قاموس کی د دخیلو کلمو معناوي پوره سمی نه ښکاری. (کمیس) په عربی ژبه کی د (خت ، جامو) معناوي لري. مګر په پښتو ژبه کی کمیس یوازي د (خت) په معنا را غلي ده او د (کالو اوجامو) په معنا مروجه نه ده. خو اسلانف په دغو دواړو معنا وو راوړي ده . د (ثبت) کلمه په عربی ژبه کی د : ۱) ثبات ، بدلون نه منو نکی ، استقامت ، پایداري ، ۲) په لست کی نیول ، ۳) لیکل ، ثبتول ، په معنا وو استعمالیږي . په پښتو ژبه کی یوازي په دو همه او دریمه معنا مستعمله ده . مګر اسلانف په ټولو معناوو را اخیستي ده . همدارنګه د اسلانف په قاموس کی د تباشیر ، رخت ، متن ، رسوخ .... کلمی په مستعملو اوغیر مستعملو معنا وو سره ثبت شوي دي ۰ د معنا وو د ترتیب په برخه کی په عمومی ډول اسلانف د عملی (اسپریزم) میتود پیروي کړي ده ، خو کله کله دغه ترتیب نه دی مراعات شوی. لکه: «پای ـ ۱) پښه ، پای مرد ، ۲) تښته ، فرار ، ۳) اخر ، انجام.»

په‌دې قاموس مقاله کې د(پای) د کلمې لومړنۍ مستعمله معنا چه باید په اوله کې راغلی‌وای په پای کې راوړل شوې ده .

ددې دپاره چه قاموس‌لیکونکی دخپلوذهنی‌او شخصی اشتباها تو څخه خلاص شی نوښه به داوي چه دمعنا وو دترتیب په مسأ له کې دژبې پراحصایوي قاموسونواتکأ وکړي (که چیرې په یوه ژ به کې د غسی ا حصا یوي قاموسونه موجود وي) .



سبکی علامی

په قاموس کی د سبکونو پر اساس د ژبی د لغوي پانګی ویشنه د قاموس لیکنی د پر نسیپونو څخه یو اساسی پرنسیپ ګڼل کیږی . د معیاري قاموسونو په برخه کی د شوروي اتحاد یو مشهور ژبپوهاند او قاموس لیکونکی اکاډیمیک ل. و. شیربه لیکی چه : اکثراً، کله چه خلک پر معیارونو د غیږی نو د وی سبکی معیارونه هیروی . که څه هم سبکی معیارونه که تر نورو ژ بنیو معیارونو مهم نه وي نو د اهمیت له پلوه تر هغوی کم هم نه دي ځکه چه بې له د غو معیارونو (سبکی معیارونو) ادبی ژبه خپل اصلی ارزښت له لاسه ورکوي . (۱)

په پښتو قاموس کی د سبکی علامو څخه په پوره توګه کار نه دی اخیستل شوی. یوازی د مفغنو او پخوانیو کلمو په برخه کی د دغه ډول علامو څخه استفاده شوې ده چه د (کلمو د انتخاب) په بحث کی مو ډ خبری پر کړي دی .

په یو ژبه کی ټولی کلمی یو ډول نه دي ـ ځینی کلمی

---

۱ . ل . و . شیربه . د قاموس لیکنی عمومی تیوري . د ژبپوهنی او فونیم پوهنی په برخه کی د غوره آثارو مجموعه . لومړی توک . ل . ۱۹۵۸ ، ۶۵ ـ ۶۶ مخ .

په یوه ژبه کی ډیرې استعمالیږي او ځینی یی بیالبو ـ ځینی ادبی او ځینی بیا غیرادبی وی ـ ځینی معیاري رنګ لري او ځینی لهجوي ـ ځینی نوی او ځینی یې زړې ـ ځینی محاوروي او ځینی کتابی دي ـ ځینی دعلومو په ګومه خاصه څانګه کی مروجی وي او ځینی یې عمومی رنګ لري . له همدې کبله دقاموس لیکنی د ننني اصولو سره سم باید یو معیاري قاموس وکړای شی دیوې ژبی دلغوی پانګی دغه معنوي اختلافونه وښیی او داستعمال ساحه یې وټاکی .

اسلانف دغه علمی واقعیتونه درک کړي دي . نوځکه دده قاموس دسبکی علامولـه پلوه دنور وپښتوقا موسونـو سره پوره توپیرلري . په دې قاموس کی هغه کلمی چه دوینا په کومو خاصو سبکو نو پوري اړه لري د مشخصو علامو په واسطه ښوول کیږي . په پښتو ژبه کـی یوازي دهغو سبکی علامو په برخه کی چه لهجوي اختلافات څرګندوي دسم اوناسم قضاوت کول درونـد کار دی ځکه چه تراوسه پوري دپښتوژبی لهجې پکافی ډول نه دي څېړل شوي . نو که چیری یوازي دخپل ذهنی قضاوت پـر اساس یاغیر کافی سوادو ، پرینا ځینی کلمې غربی یا شرقی ،

اپريدو يا وزيرو اودپښتو داسې نورو لهجوته منسوبوونو نه يوازې داچه زمونږ عمل به غيرعلمي او غير اصولي وي، بلکه پخپل قضاوت کې به مونږ پر اشتباهات هم کړي وي. مثلا د پښتو ژبې دغه کلمې: غېږ، ښخول، اوربوز (وربوز) زمونږ له نظره هم د معنا او هم د استعمال له پلوه معيارې بڼه لري او کومې خاصې لهجې (شرقي يا غربي) ته نه منسوبيږي. مګر د اسلاف په قاموس کې دغه کلمې د هغوسبکي علامو له مخه چه په قاموس کې ورته ليکل شوي دي شرقي لهجې ته منسوبې شوي دي او د اسلاف په عقيده دغه کلمې معيارې نه دي بلکه يوازې په شرقي لهجه کې مستعملې کلمې دي.

د دې ډپاره چه د کلمود لهجوي خصوصيتونو خرګندولو په برخه کې زمونږ قضاوت عيني جنبه ولري نوښايي چه خپل قضاوت د پښتو ژبې د ټولو لهجو د سيستماتيکي څېړنې پر مواد و بنا کړو. يوه بله موضوع چه د اسلاف په قاموس کې ګوته ورته نيول کيږي هغه داده چه د دخيلو کلمو په برخه کې د ايتمولوژيکي علامو تسلسل نه ليدل کيږي. په دې قاموس کې يوازې عربي دخيلې کلمې د علامو په واسطه خرګندې شوي دي مګر کومې کلمې چه له نورو ژبو څخه پښتو ته ورننوتې او اوس په پښتو ژبه کې مستعملې دي د کومو علامو په واسطه نه دي ښوول شوي.

فراز یالوژی (۱)

د روسی ژ بنـی اصطلاحات دخپرنواو پر د تاریخ لري او حتی په هغو قاموسونو کی چه په اوولسمه پیړۍ کی خپاره شوي دي، ژ بنی اصطلاحات پکښی راغونډ شوي دي. همدارنگه د روسی ژ بنی معاصر قاموسونه هم د ژ بنیو اصطلاحاتو له پلوه خورا غنی دي (۲) سربیره پردي چه ژ بنی

---

۱. فراز یالوژي د ژ بپوهنی یوه اصطلاح ده چه هم د ژ بنیو اصطلاحاتو په معنا او هم د ژ بنیو اصطلاحاتو د علم په معنا استعمالیږي. په دي برخه کی کله چه د فراز یالوژی کلمه استعمالیږي مقصد موعلم دی او که چیری مقصد مو ژ بنی واحد ونه وی نو هلته بیا (ژ بنی اصطلاحات) وایو.

۲. وګ. د روسی او کلیسا ـ سلاوی انی ژ بی قاموس. د علمو د اکاډیمی خپرونه. م. ۱۸۴۷.

و. ي. د ال، د ژ وندی روسی ژ بی مشرح قاموس (۱۸۶۳ـ ۱۸۶۶)، د روسی ژ بی مشرح قاموس په څلورو جلدونو کی د پروفیسر د. ن. اوشکوف په اهتمام (۱۹۳۵ـ۱۹۴۰)، د روسی ژ بی قاموس (څلور ټوکه) د علومو د اکاډیمی خپرونه م.، (۱۹۵۷ـ۱۹۶۱)، د اوشنی ادبی روسی ژ بی قاموس په اوولسو جلدونو کی. د علومو د اکاډیمی خپرونه. م. ۱۹۵۰ـ ۱۹۶۵.

س. ی. اوژیګف. د روسی ژ بی قاموس. م. ۱۹۴۹.

اصطلاحات په قاموسونو کې ثبت شوي دي دروسيې او شوروي دوروژ بيوهانو په دې برخه کې زياتې علمي څېړنې کړي چه ددوی د تحقيقاتو په نتيجه کې فرازيالوژي اوس د ژيوهنې دیوې مستقلې څانګې حيثيت غوره کړي دی .دغربي اروپا او امريکا په ژيوهنه کې دې موضوع ته تراوسه پوري پوره پاملرنه نه ده شوې .ا.و. کونين په خپل هغه اثر کې چه د (انګليسي ژبې فرازيالوژي) نوميږي داسې ليکي چه: «دغربي اروپا او سريکا په ژيوهنه کې د فراز يالوژۍ د تيورۍ په برخه کې تراوسه پوري کوم خاص اثر نه دی ليکل شوی، سره له دې چه ددوی په قاموسونو کې ژبنی اصطلاحات ډير راغونډ شوي دي» (۱)

په دې څوورو ستيو کلونو کې په شوروي ژيوهنه کې ډير آثار خپاره شوي چه د ژبنيو اصطلاحاتو ټول ټبل اړخونه پکښې څېړل کيږي . خو سره له دې هم د ژبنيو اصطلاحاتو ځينې مسألې لاتر اوسه تتې او لاينحله پاتې دي . د ژبنيو اصطلاحاتو دويش (کلاسيفيکيشن) او په قاموس کې د هغو د ثبتولو په برخه کې ټولې نظريې ليدل کيږي .

---

۱. ا.و. کونين. د انګليسي ژبې فرازيالوژي م. ۱۹۷۰، ۷۰ مخ .

دفرازیالوژی په تیوریکه سپرنه کی دا کادیمیک و.و. وینګرادف څېړنو سهم رول لوبولی دی،(۱).ژ بنی اصطلاحات دمعنوي جوړښت له پلوه دوینګرادف په اثارو کی پردرو ګروپونو ویشل کیږي : ۱) په لومړي ګروپ کی هغه ژ بنی اصطلاحات داخلیږي چه معنايي دترکیب داجزاوو دمعناوو څخه لاس ته نه راځی او اصطلاحی معنا دترکیب داجزاوو پرمعنا متکی نه وي (لکه دپښتو ژ بی دغه ژ بنی اصطلاحات : دپایځي رګ پالل، هرسړی پرخپله ټکی اوراړ وي،دی دکراستی ملا بند دی، پربدو اوښتل ...) ۲) په دې ډله ژ بنیو اصطلاحاتو کی هغه ژ بنی اصطلاحات راځی چه اصطلاحی معنايي په تحلیلی ډول دترکیب دټولوغړو دمعناوو سره ارتباط لري(لکه دپښتو ژ بی دغه

---

۱ .و.ګ . و.و.وینګرادف . دیوه ژ بنی پرنسیپ په حیث دروسی ژ بی دفرازیالوژی اساس مفهوم ونه .

و.و.وینګرادف . په روسی ژ به کی دفرازیالوژ یکی واحدونو اساسی ډولونه .روسی ژ به .

م.ل.، ۱۹۴۷، ۲۱- ۲۸ مخ.

ژ بنی اصطلاحات: پښه پر پښه اړول، بانو پر بانو ایښوول، او ږه کښل، بګړی د سره لویدل ...) .

دوینګرادف دغه ویش د ا.و. کلینینه (۱)، ا. پ. مرد ویلکه (۲) او داسی ډیرو نورو ژبپوهانو په اثارو کی تائید شوی دی .

ن.م. بنانسکی هم ژبنیو اصطلاحاتو ته د اکادیمیک وینګرادف له نظره ګوري، خو دی دوینګرادف پر درو ګروپونو یوبل ګروپ هم زیاتوي چه په دې حساب دی دروسی ژبی ژبنی اصطلاحات پر څلورو ګروپونو ویشی . دده په عقیده په څلرم ګروپ کی هغه ژبنی اصطلاحات راځی چه که څه هم د ترکیب هرغړی یې په خپله اصلی معنا استعمالیږي او هم د ترکیب عمومی اصطلاحی معنا یی دغړو د معناوو مجموعه ده، خو دغه ترکیبونه د استعمال په وخت کی تل خپل اصلی ترکیبی شکل ساتی او بې له کوم تغییر څخه استعمالیږي چه په همدې اساس دغسی ترکیبونه د ژبنو اصطلاحاتو په ډله کی راتلای شی (لکه په پښتو ژبه کی دغسی ترکیبونه :

---

۱. ا.و. کلینینه. دروسی ژبی لغوي پانګه. م.، ۱۹۶۶، ۱۸۵ - ۱۹۰ مخ .

۲. ا. پ. مرد ویلکه. دروسی ژبنیو اصطلاحاتو لنډه څیړنه. م.، ۱۹۶۴، ۳ مخ .

د او بو شين ډنډ ، د سينما تکس ...) (۱)

ب. ن. گلوين دژ بنيو اصطلاحاتو د څېړنو په نتيجه کې دې تکې ته رسيږي چه په روسي ژبه کې ژبنی اصطلاحات پر څلورو گروپونو ويشل کيږي . دی دوينگرادف پروېش يوبل گروپ هم ورزياتوي چه د (اډيم) په نامه يې ياد وي (۲). په شوروي ژبپوهغه کې دژ بنيو اصطلاحاتو په برخه کې يوبل نظر هم شته چه دپورتنيو نظريوسره پوره توپير لري ، او هغه داچه ددې ډلې دژ بپوهانو په عقيده سر بيره پر پورتنيو ډولونو ټول هغه ترکيبونه چه ترېوې اندازې پورې خپل ترکيبی ثبات ساتی او تل د مشخصو ترکيبونو په شکل استعماليږي هم دژ بنيو اصطلاحاتو په ډله کې راځی لکه: متلونه ، مقولی ، او هغه ادبی عبارات چه عام معروفيت يې پيدا کړی وی (۳) . سربيره پردې دژ بنيو اصطلاحاتو په

---

۱ . ن.م. بانسکی. د او سنی روسی ژبی فرازيالوژي. م.، ۱۹۶۳، ۴۴ - ۴۵ مخ .

۲. ب.ن. گلوين. دژ بپوهنی مقدمه . م.، ۱۹۶۶، ۱۱۰ - ۱۱۷ مخ .

۳ . دغه مساء له په مفصل ډول سره دس. ي . او ډيگف په مقاله (دژ بنيو اصطلاحاتو ستر کچر . دقاموس ليکنی مجموعه ۲ گڼه ، م . ، ۱۹۵۷) کې او دا . ن. کوزين په مقاله (دروسی ژبی دژ بنيو اصطلاحاتو سر حدونه . فيلولوژ يکی علوم لوسړی تيوک ، م . ، ۱۹۶۵) کې څېړل شوې ده .

برخه کی ځینی نوري نظریې هم شته چه یاد و نه یې دلته دو سره سو ز و نه نه شکا ري .

سره له دې چه دژ بنیو اصطلاحا تو و پشنه پرخا صو گرو پونو نسبی بنه لري او تر ډ ابره حده پوري دژ بپوها نو په ذهنی قضاوت او هغو پر نسیپونو پوري اړه لري چه ژ بپوها ن یې پیروي کوي .

سره له دې ټولو اختلافونو بیا هم په شوروي ژ بپوهنه کی دژ بنیو اصطلا حا تو د تشخیص او و پش په بر خه کی دا کا دیمیک و ینګرادف نظر دتائید و ړ ګنل کیږي . ځکه چه دده و پش دیو پ خوا و اقعیت ته نږدې دی اود بلی خواددې خاصوژ بنیو و احدو نود و اقعی و پشنی په برخه کی زیات امکانات برابروي . د نورو ژ بپوها نو په و پش کی اکثراً ژ بنی اصطلاحات اوعادي تر کیبو نه ، یا ژ بنی اصطلاحات ، متلونه ، او مقولی سره ګډ یږي او پوره توپیریې نه سره کیږی . ددغو وروستیو ژ بپوها نو نظر کله کله په قا موسو نو کی هم منعکس کیږي . مثلاً د شو روي اتحاد دعلو مو دا کا ډیمی په قا موس (څلور ټوکه) کی او هم د او ښکوف په مشرح قا موس څلور ټوکه) کی دغسی عادي تر کیبونه لکه «وړو- وړو» «لږ-لږ» د قاموسی مقالو په پای کی دژ بنیو اصطلا حا تو په حیث راوړل شوي دي. داتر کیبونه ژ بنی اصطلا حات نه دي بلکه ، لکه څنګه چه په هغه وخت کی ف.ف. فرتونا تف

اشاره ورته کړې ده (۱) . داهغه ډول ژبنی ترکیبو نه دي چه یوه کلمه دوه واره دیوه مقصد یا یوه عمل د شدت په غرض تکراریږي اوعادي ژبنی ترکیبونه دي نه ژبنی اصطلاحات.

دژبنیو اصطلاحاتو یوه بله مهمه مسأله چه تر او سه تنه اولاینحله پاتهده اوپه قاموسونو کی تر او سه پوري کوم مشخص پرنسیپ نه د ی ور ته ټاکل شوی هغه په قاموسونو کی دژبنیو اصطلاحاتو د ثبتو لو موضوع ده . په دې برخه کی چه ژبنی اصطلاحات ترکو مو کلمو لاندی راوړل شی ، قاموس لیکونکی تراوسه کوم مشترک تکی ته نه دي سره رسیدلی او په مختلفو قاموسونو کی د یېلو یېلو پرنسیپونو څخه کار اخیستل شوی دی .

پ.ب. زودین (۲) اوک ۱۰. لیبیدیف (۳) په دې عقیده دی چه ژبنی اصطلاحات دی دژبنیو اصطلاحاتو دترکیب ترهغی کلمې لاندي راوړل شی د کو مې سره چه دژبنیو اصطلاحاتو معنا هیڅ ارتباط نه لري. س.ي . او ریګنز بیا دخپل قاموس په مقدمه کی لیکی چه ژبنی اصطلاحات دي ترهغو کلمو لاندي راوړل شی د کو مو سره چه دژبنیو

---

۱. ف.ف. فرتو ناتف . غوره اثار . لو سړی ټوک ،م.، ۱۹۵۲ ، ۱۷۳ - ۱۷۴ مخ .

۲. پ.ب.زودین . کوچنی پښتو-روسی قاموس.م.، ۱۹۵۰ .

۳. ك ۱۰ . لیبیدیف. پښتو- روسی جیبی قاموس .م.، ۱۹۶۲ .

اصطلاحاتو عمومي معنا ارخ لګوي (۱) . مګر د شوروي اتحاد د علومو د اکاډیمۍ په کوچنۍ قاموس (څلورتوکه) کې بیا یوه ژبنۍ اصطلاح د ترکیب تر ټولو کلمو لاندې د قاموسي مقالو په پای کې په مکرر ډول سره راوړل کیږي، خو یوازې په یوه ځای کې ترهغې کلې لاندې تشریح کیږي کوم چه دژبنۍ اصطلاح معنوي مرکز تشکیلوي(۲).

پروفیسر ي . و . رخمانف کوښښ کړی چه د دغو مشکلاتو د حل د پاره یوه عملي لار پیدا کړي . نو دی د حل لار په دې کې استوي چه ژبنۍ اصطلاحات دی پر دوو ګروپونو ووېشل شي . یوهغه ګروپ ژبنۍ اصطلاحات دي چه عمومي معنایي د ترکیب د کلمو پر معناوو متکي وي . او بله هغه ډله ژبنۍ اصطلاحات دي چه عمومي معنایي د ترکیب د کلمو پر معناوو متکي نه وي .

نو په دې اساس (دده په عقیده) دلو مړي ګروپ ژبنۍ اصطلاحات د کلمو ترهغو معناوو لاندې راوړل کیږي ، د کومو سره چه د ژبنیو اصطلاحاتو معنا وي اړه لري . او دوهم ګروپ ژبنۍ اصطلاحات په مستقل ډول د قاموسي مقالې په پای کې راوړل کیږي (۳). لکه څنګه چه

---

۱ . س.ي اوژیګف. دروسي ژبې قاموس ۱۹۴۹م. ۰

۲ . دروسي ژبې قاموس (څلور توکه) . د علومو د اکاډیمۍ خپرونه ۱۹۵۷م. ۰ - ۱۹۶۱ ۰

۳ . د جرمني - روسي قاموس مقدمه . د پروفیسر ي . و . رخمانف په اهتمام ۱۹۶۳م. ، ۴ مخ ۰

څرګندیږي دغه ټول روشو نه په قاموس کې دژبنیو اصطلاحاتو د ثبتولو مسأله نه شي حل کولای . د دې خبرې د اثبات اود موضوع دوضاحت دپاره به د پښتو ژبې یوه ژبنی اصطلاح راواخلو او خبرې به پرو کړو .

په پښتو ژبه کې (د پایخې رګ پالل) یوه ژبنی اصطلاح ده . دزو دین، او ډیګف او لیبیدف د نظریاتو پر اساس د اصطلاح باید د دې ترکیب ترهغې کلمې لاندې را وړل شي د کومې د معنا سره چه ارتباط نه لري . خو دلته دا مشکله ده چه سړی دی په وپو هیدای شي چه د دې ژبنی اصطلاح معنا د درو کلمو (پایخه، رګ، پالل) له ډلې څخه د کومې یوې د معنا سره ارتباط نه لري چه ترهغې لاندې ثبت شي . بله خبره دا ده چه د ژبنیو اصطلاحاتو اصطلاحی معنا نه یوازې داچه د ترکیب د کلمو د معنا و و سره مستقیم ارتباط نه لري بلکه کله کله هیڅ ارتباط نه لري . که چیرې د غسې ارتباط موجود وي نو ژبنی اصطلاح نه شوو رته ویلای، بلکه د ژبې یو عادي ترکیب یې بولو. همدارنګه هغه روښه د شورو ي اتحاد د علومو دا کاډیمۍ د قاموس له خواو راندې کیږي موضوع لاهم پیچلې کوي. ځکه (د پایخې رګ پالل) په ژبنی اصطلاح کې کومه کلمه- پایخه، رګ او یا پالل د معنوي مرکز حیثیت لري. د اخرګنده ده په هغو ژبنیو اصطلاحاتو کې

چه عمومی معنا یې د ترکیب د کلمو پر معنا و و منتکی نه وي
د اسی کلمه پکښی نشته چه هغه دي د معنوي مرکز په حیث
و نه ګل شی .

د دې ټول بحث څخه یوې د اسی نتیجې ته رسیږو چه د ژبنیو
اصطلاحاتو د ژبتولو په برخه کی باید یو د اسی پرنسیپ غوره
شی چه دیوې خوا عملی جنبه ولري او د بلی خوا د قاموس
لیکونکو د ذهنی قضاوت د خالت پکښی لږوي . زما په عقیده ،
بوازنی عملی او غوره پرنسیپ به د اوي چه په قاموسی مقالو
کی دي ژبنی اصطلاحات د اصلی کلمو (کومکی توري په
ژبنیو اصطلاحاتو کی د اصلی کلمو په حیث نه ګڼل کیږي)
د الفبا ء په ترتیب راوړل شی . یعنی ژبنی اصطلاحات دي ترهغو
اصلی کلمو لاندی راوړل شی کومې چه د ژبنیو اصطلاحاتو
د ترکیبونو په سر کی راغلی وي . په دې اساس د پښتو ژبنی
اصطلاح (د پایخې رګ پالل) باید د (پایخه) د قاموسی مقالی
په پای کی راشی .

په پښتو قاموس کی ژبنی اصطلاحات او تشریحی ساده
عبارتونه یوځای راوړل شوي دي .

څرنګه چه ژبنی اصطلاحات د دې قاموس په قاموسی
مقالو کی په مستقل ځای کی نه دی راوړل شوي
نو د ژبتولو د پرنسیپ په برخه کی یې د صحت او یا غلط
قضاوت نه شو کولای . او هم نه پوهیږو چه د نومورې

پښتو قاموس لیکونکی کوم ډول تر کیبونه ژ بنی اصطلاحات
بولی .داچه په پښتو قاموس کی دژ بنیو اصطلاحاتو د بېلولو
په برخه کی پوره پاملرنه نه ده شوې علت به یې داوي چه تر
اوسه پوری په پښتو ژ پیوهنه کی دژ بنیو اصطلاحاتو د مفهوم
او په قاموسونو کی دژ بنیو اصطلاحاتو د ثبتولو په برخه کی
سیستماتیکه څېړنه نه ده شوې.

داسلانف په پښتو ـ روسی قاموس کی ژ بنی اصطلاحات
د قاموسی مقالو په پای کی دیوې خاصې علامې په واسطه
بېلیږي.ددې قاموس لیکوونکی داسی لیکی چه: « هغه
اډیمونه اوژ بنی اصطلاحات چه د ترکیب دیوې کلمې د معنا
سره هم ارتباط نه لري د قاموسی مقالې په پای کی راوړل
کیږی او دیوې خاصې علامې په واسطه بنوول کیږی،» (د
همدې قاموس لسم مخ) .داسلانف دهمدې لیکنې څخه د
ژ بنیو اصطلاحاتو مفهوم او په قاموس کی دژ بنیو اصطلاحاتو
د ثبتولو پرنسیپ نه څرګندیږي .نوځکه دده په قاموس کی
دژ بنیو اصطلاحاتو مسأله مغشوشه غوندې ښکاري:۱) په
دې قاموس کی اکثراً متلونه، او مقولې د قاموسی مقالو په
منځ کی د تشریحی مثالو سره یوځای راغلی دي.خو کله کله
بیا د قاموسی مقالو په پای کی دژ بنیو اصطلاحاتو په حیث
راوړل شوي دي لکه: عقل په ټکر حاصلیږي(۲۷۵ مخ).

گوره چه اوښ په کوم اړخ چو کیږي (۳۲۵مخ) . نو په دې اساس نه شو پوهیدای چه نومو ړی قاموس لیکونکی مټلونه او مقولې دژبنیو اصطلاحاتو په ډله کی شمیږي او که یه ، ۲) په دې قاموس ډیری عادي او ساده جملې د قاموسی مقالو په پای کی د ژبنیو اصطلاحاتو په حیث ثبت شوي دي لکه : مطلب یې زه وم (د مطلب تر کلمې لاندي)، خپل حق بودول (د بودول تر کلمې لاندي)، له چا پ نه بیرون کېدل (د بیرون تر کلمې لاندي)، داو بوشین ډنډ (د ډنډ تر کلمې لاندي) ، دلمبدو ډنډ (د ډنډ تر کلمې لاندي)، داخه خبره ده (د «خبره» تر کلمې لاندي) ، زما خبره دی نه منله (د «خبره» تر کلمې لاندي) ....

دغه ټول تر کیبونه چه اسلانف د ژبنیو اصطلاحاتو په حیث راوړي دي ژبنی اصطلاحات نه دي، بلکه د پښتوژبی ساده جملې دي، ۳) که خه هم په دې قاموس کی د ژبنیو اصطلاحاتو د ثبولو د پرنسیپ یادونه نه ده شوې خو د پورتنیو مثالونو د تحلیل څخه داسی څرګندیږي چه ده د ژبنیو اصطلاحاتو د ثبولو په برخه کی د هغه روش څخه پیروي کړې ده، د کوم پر اساس چه ژبنی اصطلاحات تر هغو کلمو لاندي راوړل کیږي چه په ترکیب کی بې معنوي رول تر نورو کلمو زیات وي .د دې ډول روش د نیمګړتیا وو یادونه مخکی راغلی ده.

مأخذونه

ابایف ـ و.ي. په قاموس کې دامو نیمو ژبتول . دژبپوهنې مسألې ،۳ ګڼه ۲م، ۱۹۵۷.

اسلانف،م. ګ. په پښتو ژبه کې دترکې ژبو دخیلې کلمې. دخېڅ پېژندنې دانستیوت خپرونې،۳ ګڼه،م،۱۹۴۷.

اسلانف،م. ګ. پښتو قاموس لیکنه. د(و ي) علمي یادداښتونه . لوسړی ټوک ،م، ۱۹۴۶.

او ریګف،س.ي. دژبنیو اصطلاحاتو ستر کچر . دقاموس لیکنې مجموعه. ۲ ګڼه ،م، ۱۹۵۷ .

بیرتیلس ،ي. د پښتو ژبې کندهاري لهجه. شوروي ژبپوهنه . لوسړی ټوک، ل، ۱۹۳۵ .

خالیدف ،ب.ز. په اوسنۍ ادبي پښتو کې عربي دخیلې کلمې . د دکتورا دتیزس لنډ یزه. تاشکند ، دثمر قند پوهنتون، ۱۹۵۲ .

رخمانف ،ي.و . دجرمنۍ ـ روسي قاموس مقدمه.

شپربه،ل.و. د قاموس لیکنې تیوري. دژبپوهنې او فونیم پوهنې په برخه کې دغوره اثارو مجموعه.ل.۱۹۵۸،.

شپربه ،ل.و. دمیتو دولوژۍ له نظره ګرامر او دلغتونوسره دهغه متقابل اړیکې ... په مخنیوبنو نځیو کې دخارجي ژبو تدریس م ،، ل. ۱۹۴۷،.

شیربه،ل.و. دروسی-فرانسوي قاموس مقدمه
م ۰،۱۹۳۹ ۰
ښانسکی،ن.م. داوسنی روسی ژبی فرازیالوژی
م۰، ۱۹۶۳ ۰
فرتوناتف،ف.ف. غوره اثار.لومړی ټوک.م ۰،۱۹۵۶
کسار یس . د او سنی قاموس لیکنی مقدمه
(روسی ترجمه) م.م ۰،۱۹۵۸ ۰
کلیمف،گ ۱۰. ژبنی تماسونه . عمومی ژبپوهنه
م۰ ۰، ۱۹۷ ۰
کلینینه ،ا.و. دروسی ژبې لغوي پانګه.م ۰،۱۹۶۶
کوتینه ،ل .ل . دامونیمونومسأله اوداوسنی
روسی ژبی په قاموسونو کی دهغوي انعکاس . دقاموس
لیکنی مجموعه ۰،۴ ټوک ۰،م ۰،۱۹۶۰ ۰
کوړین ، ۱۰ن . در وسی ژبی دژبنیو اصطلا حا تو
سرحدونه. فیلولوژیکیعلوم. لومړی ټوک ،م۰، ۱۹۶۵ ۰
کونین، ۱۰و. دانګلیسیژبیفرازیالوژي.م ۰،۱۹۷۰
گلوین ، ب . ن . د ژبپوهنی مقدمه م۰، ۱۹۶۶
لیبیدیف، ك ۱۰. دزودین پرپښتو قاموس تقریظ. دختیځ
پیژندنی خپرونی ۰،۷ ګڼه ،م۰، ۱۹۵۳ ۰
لیفښیځ، و ۱۰- ارانسکی،ي. م. د پښتو ژبی څېړنه.
داریایی ژبو دخیړنی تاریخ م ۰، ۱۹۶۲ ۰

ما سلف، یو .س. دژبی دتیوری او تاریخ د مسألو مجموعه .ل.، ۱۹۶۳ .

ما یتینسکیه ، ك . ي . ددوو ژبیزو قاموسونو په جوړولو کی دژبو دگرامري جوړښت دبیلو الی ارزښت . قاموس لیکنه او الهجي پیژندنه. دعلومودا کاډیمی خپرونه. م . ، ۱۹۵۳ .

مردو یلکه ، ا . پ . دروسی ژبنیو اصطلاحاتو لغت خپرونه .م.، ۱۹۶۴ .

نوري محمد گل . دپښتو اصطلاحات او محاورې کابل ، ۱۳۲ .

واسعی عبد الخالق. دپښتو شعري اوادبی قاموس . کابل مجله ۵۱۸ - ۵۲۹ گنی .

وینگرادف، و.و. دکلمی شکلونه.دعلومودا کاډیمی خپرونه. دژبی او ادبیاتو څانگه .، تومك ،م.، ۱۹۴۴ .

وینگرادف، و.و. دیوه ژبنی پرنسیپ په حیث دروسی ژبی دفرازیا لوژی اساسی مفهوم مونه . ل . ، ۱۹۴۶ .

وینگرادف، و.و. په روسی ژبه کی دفراز یالوژیکی واحدونو اساسی ډولونه .

روسی ژبه . م.، - ل . ، ۱۹۴۷ .

اسلانف، م. گ. پښتو - روسی قاموس.م.، ۱۹۶۶ .
او ریکف، س.ي. دروسی ژبی قاموس. م.، ۱۹۷۰ .
برانف ، خ . ك. عربی-روسی قاموس. م.، ۱۹۶۲ .
بلومنارډ ،ج.ف. او میکنزی. د بریتیش په کتابخانو کی
د پښتو اثارو کتالوګ .لندن، ۱۹۶۵ .
بیلکین، و.م. جیبی عربی-روسی قاموس.م.، ۱۹۷۰ .
بیلیو، ه .و. د پښتوژبی قاموس. لندن، ۱۸۶۷ .
پښتو قاموس. کابل، ۱۹۵۲- ۱۹۵۵ .
توما نویچ . د پښتوژبی لنډ ګرامر او قاموس.تاشکند
۱۹۰۸ .
دال،و،ي . دژوندی روسی ژبی مشرح قاموس
م.، ۱۸۶۳ .
دورن،ب. د پښتوژبی خپنی منتخبی ټوټی او
قاموس . س . - پیربورګ ، ۱۸۴۷ .
دټولو ژبو او لهجو مقایسوي قاموسونه.س.پیتربورګ
۱۷۸۷ .
دروسی ژبی مشرح قاموس (خلورټوکه)داو ښکوف
په اهتمام م.، ۱۹۳۵-۱۹۴۰ .
داوسنی ادبی روسی ژبی قاموس(اوولس ټوکه)د علومو

دا کاډیمی خپرونه.م.، ۱۹۵۰-۱۹۶۵.
دروسی ژبی قاموس(څلورټوکه) د علومو اکاډیمی م.، ۱۹۵۷-۱۹۶۱.
راورتی، هـ. د پښتوژبی قاموس. لندن، ۱۸۶۰.
زودین، پ.ب. روسی-پښتو قاموس.م.، ۱۹۵۵.
زودین، پ.ب. کوچنی پښتو - روسی قاموس م.، ۱۹۵۰.
سید بهادر شاه ظفر. ظفر اللغات. پیښور.
شاه عبدالله بدخشی. دافغانستان دخینوژبوا ولهجو قاموس. کابل، ۱۹۶۰.
عبدالله افغانی نویس. افغان قاموس کابل، ۱۹۵۷.
دری - روسی قاموس دیو ۱۰. روښچیک په اهتمام م.، ۱۹۷۰،
لیبیدیف، ك.ا. جیبی پښتو روسی-قاموس.م.، ۱۹۶۲.
لیبیدیف، ك.ا. جیبی روسی-پښتو قاموس م.، ۱۹۶۱.
لعل محمد کاکړ او عبدالحی جیبی. سپینځلي پښتو. کندهار، ۱۹۴۰.
محمد گل موسند. پښتو سیند. کابل، ۱۹۳۸.
میوار، ب.و. دری - روسی قاموس.م.، ۱۹۵۳.
یفیمف، ا. پښتو ترجمان. تاشکند، ۱۹۰۷.

سمون لیک

دمخه‌تردې چه‌د کتاب په‌لوستلو شروع و کړی ء، لطفاً دغه غلطی اصلاح کړی ء:

مخ	لیکه	ناسم	سم
۲	۱۲	ح٠ر اورتی، ح بیلیو	ه٠ر اورتی ، ه٠ بیلیو
٦	۱۷	Mackenzier	Mackenzie
٦	۱۹	chrestomathy	A chrestomathy
۷	۳	چه په پښتو	چه پښتو
۱۷	۱۵	نه ږغیږو	نه ږغیږو
۱۹	۱	رفتن	رفتن
۲۲	۸	سیکی	سبکی
۲۵	۱٦	لغوي برحه	لغوی برخه
۲۷	۴	helal halal	halal helal
۲۸	۷	مبارگ	مبارك
۳۲	۲	اصطلاع	اصطلاح
۳۲	۱۵	وانوټ	اونوټ
۳٦	۲۰	جوړوو	جوړول
۳۷	۸	فهوست	فهرست

مخ	لیکه	ناسم	سم
۳۷	۱۷	به	په
۳۸	۱۸	بالات	بایلات
۴۱	۱۰	پرې د	پردې
۴۴	۲	ترانسرپشن	ترانسکرپشن
۴۴	۱۰	سیمبولونه	سیمبولونه
۴۷	۸	رسم انحظ	رسم الخط
۵۴	۱۲	خه	چه
۶۰	۱۰	او نیمونه	امونیمونه
۶۲	۱۷	منځ	مخ
۶۸	۱۶	ناخت	تاخت
۷۸	۱۶	سیستموبو	سیستمونو
۸۵	۱۸	اجراوو	اجزاوو
۸۹	۷	تل	تا
۸۹	۶	KatəI	Katəl
۸۹	–	(el)—	el
۱۰۳	۱	قاموس	قاموسی
۱۱۱	۶	ژبپوهنه	ژبپوهنه
۱۱۴	۱۰	یوهغه گووپ	یوهغه گروپ

PROPERTY OF PACKU 5282